کابل

TRANSFER
2
JUN 24 1944
Serial Record Division
The Library of Congress
Copy

۱۵۵

وئې وایاست :

(۱) د پښتو پخوانی ادب څنګه و ؟ (۲) دمېرمنو اشعار
(۳) دپښتو ګرامر په څه اساس ولیکو؟ (٤) شعری سرقې
(٥) د رسامۍ فن

یادونه

دکابل مجله له ټولو لوستونکو ، اوداخبارو اومجلاتو له خاوندانو څخه هیله لری، چه که کم مضمون له دې مجلې څخه اخلی، حواله دی ورکوی.

(دصحافت څانګه)

(۱۳) کال　　دلو ۱۳۲۲　　(۱۱) گڼه

کابل

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

میاشتنۍ مصوره مجله

چلوونکی : گل پاچا «الفت» دپښتو ټولنې مبصر

او دصحافت مدیر

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ

تلگرافی پته : کابل : پښتوټولنه

ټول لیکونه ع، ص عبدالحی خان «حبیبی» دپښتو ټولنې عمومی مدیر او دمطبوعاتو دمستقل

ریاست معاون ته کېږی

اشـــــــــتراك

کابل :	۲٤ افغانی
دننه مینه :	۲٦ «
دباندی :	۱ سترلنگ پونډ
دښوونځیو زده کوونکی ته	۱۲ افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
دپښتو پخوانی ادب څنګه و ؟	ښاغلی « حبیبی »	۱
دملتو د ترقی مظاهر	« « د الفت »	۵
عقل	د « « واسعی » ترجمه	۸
دشرق علمی ترقیو ته یوه دغور کتنه	« « ایازی »	۱۰
دمور او پلار مسئو لیت	« « نظامی »	۱۳
دمیرمنو اشعار	« پټه خزانه »	۱٤
څوک	پیر محمد « کاکړ »	۱۵
دمینو لوړ نه	« «	»
څه کا	شیدا	»
غزل	«	۱٦
خزان وهلی باغ	میانعیم «متی زی »	»
غزل	« «	»
دبلبل زړا	« مرحوم مخلص »	۱۷
لا ترکله	ښاغلی « پښتون »	»
دیتیم اختر	« « بینوا »	۱۸
دپټن ترانه	« « طالب »	۱۹
دیوه ناروغ پر دیس وروستنی وینا	« « روښان »	۲۱
دګلو سره	د « « سیفی » ترجمه	۲۳
ړوند	« « « هاشمی » «	۲٤
شعری سرفی	« « رشتین »	۲٦
دپښتو ادب اقتباس	« « نوری »	۲۹
دپښتو ګرامر په څه اساس ولیکو ؟	« « الفت »	۳۲
درسامی فن	د « « سیفی » ترجمه	۳٤
پخوانی افغانستان	« « کهزاد »	۳۸
دلسمی پیړی علماء	« «خوګیانی»	٤۰
رمبرانډت	د « « سیفی » ترجمه	٤۲
ماګډولین	« « « بینوا » «	٤٦
له هری خوا	« « « سیفی » «	٤۹
توکی تکالی	« « «صحافت څانګه»	۵۰
عکسونه (۲) قطعې		

دپشتو پخوانی ادب

خنګه و ؟

(۳)

(۳) محاکاة او مناظر

ښاغلی «حبیبی»

دشعر اوشاعری ـ کمال محاکاة اودتصویر قوه ده ، یو پیاوړی شاعر کولای شی، چه لکه یوماهر رسام او خوراخیرك انځور کرد قدرت ښکلی مناظر انځور کړی ، اودمحاکاة دقوې په مرسته ډېری نری ـ نکتې اوښکلی ښکلی شیان رسم کړی .

پخوانو شاعرانو دا کمال په شاعری کښې په ښه ډول درلود ، هغه پاڼو سو قصاید چه شاعرانو د غزنی په دربار کښې ویلی دی ، دغه ښېګړی په بشپړ څېرلری ، اوپیاوړو شاعرانو دمحاکاة او تصویر په فن کښې دخپلو طبعو غښتلوالی ښکاره کړی دی .

داد شاعری ـ لوړه درجه او کمال تاسی د مثال په ډول د فرخی په دې قصیده کښې و ګورئ ، چه دد منی مناظر خنګه تصویر کوی ؟ سړی خیال کوی، چه زه یومنی وهلی یې ته ګورم :

چوزر شدندرزان ازچه ؟ ازنهیب خزان
به کینه گشت خزان با که ؟ با سپاه‌رزان
هوا گسست گسست‌ازچه ؟برگسست ازابر
زچیست ابر ندانی تو ؟ از بخا رو دخان
گزنده گشت‌چه‌چیز؟ آب‌چون‌چه؟چون گژدم
خلنده گشت همی باد چون چه ؟ چون پیکان
بریخت که ؟ گل‌سوری ، چه ریخت ؟ برگ،چرا ؟
زهجرلاله ، کجا رفت لاله ؟ شد پنهان
مگرد رخت شگفته گناه آدم کرد ؟
که ازلباس چو آدم همی شود عریان
سمن ز دست برون کرد رشتهٔ لؤلؤ
چو گل ز گوش برآورد حلقهٔ مرجان
هزاردستان دستان زدی بوقت بهار
کنون بباغ همی زاغ راست آه وفغان

له دغی قصیدې څخه ماخو بیته دنمونې په ډول رانقل کړل ، مقصدمی دادی چه‌دمحاکاة اودشعری تصویر یومثال درو ښیم ، دا شعری کمال او فن تقریباً دټولو قومو اوملتو دشعر مشترك مزیت دی مگردهر شاعردا له خپله محیطه سره سم وی !

زمونږ په ملی ادب کښې هم له پخوانو او منځنیو شاعرانوڅخه ډېر ښه‌ښه قصاید پاته دی،چه دمحاکاة دفن یواعلی اوخوراښه‌مثل ئې ګڼلای‌شو،یعنی یوازی دنوروزیوسره سیالی نه کوی ، بلکه په ډېرو ښېګړو کښې لحنی اوړی.له پخوانو شاعرانو څخه شیخ‌اسعد سوری چه‌په (٤٢٥ ﻫ)په‌بغنین (دقندهار دزمیند اور اوسنی بغنی) کښې وفات شوی‌دی ، اوښکاره ندوی دغوری سلطان معزالدین معاصر داسی قصیدې لری چه‌هم‌په فصاحت اوهم‌په محاکاة کښې ډېری لوړی دی ، او دشاعرانو مهارت او پیاوړتوب ئې ښه لحنی ښکاره کېږی .

دوی په‌دغو خپلو غراء قصیدو کښې دخپل غرین او دبرین وطن خصوصی مناظر او مرایا په ډېره استادی اومهارت تصویر کړی دی .

غالباً په‌نوروزیو کښې شعراء دغه خپل مهارت

د ېر ځله د ښادۍ او ښو ښۍ په وختو کښې ښه څرګندولای شي ، مګر که څوك دویر او ناورین سره هم وکړای شي ، چه دغه مناظر تصویر کړی ، دانو دفن کمال اولوړ تیا ده ، یو رسام چه دپسرلی ښکلی منظرې رسم کوی ، یادعیش اوطرب محافل اوبزمونه کښلای شي که دی دیوه یتیم دژمی د سړی شپې خال هغسی چه ښائی رسم کړی ، اودده د ژوندانه اوفکر او آمالو انځور داسی جوړ کړی چه سړی ئې له لید لو څخه ټول احوال تصور کولای شي ، دا نو غښتلی او پیا وړی انځور ګربولو . شاعر هم دغسی دی ، کله دفن په قوت اومهارت خلق خوښوی او کله ئې ژړوی .

محمد سوری د غور پاچا وو ، سلطان محمود دا پاچا ونیوه ، او په بند کښې مړشو ، اسعد د ده ملګری او آشنا وو ، پرمرګ ئې ساندی و ویلې ، اوویرنه ئې نظم کړه ، وګوری ، چه دغور دعشر تسرای ویرجن او دناورینه ډك منظر په دې قصیده کښې څنګه ترسیم کوی ؟

دا یو څو بیته ئې وا روی ، :

ګوره څاڅی دنمې او ښی له دې غرونو
داکړونګی ساندی لی په شورهار
نه هغه زرغا دغرونو دبېدیاده
نه دزر کیو په مسا دی ، کټهار
نه غټول بیازر غونېږی په لاښونو
نه بامی بیا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بیا راځی کاروان دمښکو
نه رادرومی غور ته بیاجوپې دشار
دا په څه ؟ چه محمدولاړ له نړیه
په ویرنه ئې سوغورټول سو ګوار
نه ښکاریږی هغه سور دسور په لتو
نه ځلیږی هغه لمر پر دې دیار
چه به نجلیو په نڅا پکښې خند له
چه به پیغلو کا اتن کتار کتار
هغه غور په ویرنا تاردوا کمن کښېنوست
هغه غورسو دجاندم غندی سوراړ

داڅو بیته دمثال په څېر ذکر شول ، تاسی وګوری ، چه دغور محزون اوویر ژړلی حال څنګه په دغه قصیده کښې تصویر شوی دی .

پسرلنی مضامین اواشعار هم په هره ژبه کښې وی ځکه چه پسرلی شاعر مستوی ، اودقدرت ښکلیو مخلوقاتو ته ئې ځیر کوی .

ښکارندوی په پسرلی د سلطان معزالدین غوری دلښکر و تیریدل پراټك باندی په یوه قصیده کښې تصویر کوی ، ددی قصیدې محاکاتی خوا هسی دلچسپه ده ، چه سړی ئې له ویلو څخه کټ مټ دلیدلو خونداخلی ، دایو څو بیتونه ئې ولولی ، :

دپسرلی ښکلونکی بیا کړه سنګارونه
بیائې و لونل په غرونو کښې لالونه
مځکه شنه ، لاښونه شنه ، لمنی شنی سوې
طیلسان زمر دی واغوسته غرونه
د نیسان مشاطې لاس دمچیدودی
مرغلرو باندی و ښکلل بڼونه
دغټو لو جنډی خاندی وریدی ته
زرغونو بڼو کښې ناڅی زلمی جونه
لکه ناوی چه سورټیك په تندی وکا
هسی وګانل غټو لوسره پسو لونه

له دغو څو بیتو څخه تاسی د شاعر محاکاتی قوه اودده دتصویر پیاوړیتوب اندازه کولای شی .

په دی بیتو کښې دسلطان د لښکرو تېریدل څنګه ښه تصویر کوی :

نن په سیند باندی تیریږی یرغل کاندی
په پرتم ئې زمری ریږدی په زنګلونه
څیان سیند ئې هم له ډاره ایلائی کا
پراوږو وړی د غوریانو ښه ایړونه
په هر کال اټك دده ښه راغلی کاندی
غوړوی په څنډو خپل پاسته سالونه
پښتونخوا ښکلی زلمی چه زغلی هند ته
نو آغلیه پیغلی کاندی اتڼونه

(٤) مینه او جمال خوښونه :

وایی چه شاعر هر کله پر ښکلیو او ښایستو شیانو

مین‌وی . یوازی ښکلی انسان نه ، بلکه هر ښکلی شی ئې خوښ وی .

دشعر اوشاعری لمړنی محرك هم‌دغه دبداعت خوښولو اوجمال دوستی حس دی . دجمال مینان هر کله‌دجهان تولوښکلیوته دمینی په ستر که گوری ولی‌چه جمال له‌مبدأ فیاض‌خخه راځی ، او د انسان په‌فطرت کښې دعشق اومینی لمبی بلوی ، عارف تل عاشق وی ،اوعاشق‌صادق تل عارف وی .

دخدایتعالی پیژند نه که خه‌هم‌په کامل ډول‌نه کیږی مگردقدرت ښکلی آثار مونږ ته دا راښیی چه‌دنیا دحقیقی جمال یومظهر ده ،اوعارف په‌هر شی کښې دهغه‌رڼا وینی .

دتصوف‌په‌ژبه دغه د جمال مینه و حدة الوجود ته رسیږی ، عرفاء او د خدای دوستان تل‌دعشق اومینی په‌دنیا کښې دیوه جمال مظاهر وینی اوعشق ددنیامدار گڼی .

په‌ادب کښې دعشق‌اوجمال‌دوستی‌احساسات تل‌وی اومخصوصاًصوفیانه‌اشعارخوتول له‌دغوپاکو اوسپېڅلیو جذباتو ډك‌وی .

دپښتو پخوانی اشعار هم‌له‌دی جذباتو خخه پوره اوښه‌برخه لری، اود اصپاتل په‌دی‌خم کښی ایشی !

په‌پخوانواشعاروکښې‌مهمترین‌اوترټولوبلیغ اولوړ اودجذباتو ډك‌شعر دمرحوم شیخ‌متی (متولد ٦٢٣ه) دی،چه‌دنړی جمال‌اوښکلی‌توب په‌داسی ژبه راښیی چه‌سړی په‌خورا ژورو احساساتو متحسس کیږی .

له‌هغی‌منظومې خخه‌چه‌له‌شیخ‌متی علیه‌الرحمه خخه دپټی‌خزانې مؤلف‌رانقل‌کړیده،داخوبنده ولولی :

پرلویو غرو هم‌په دښتوکی
په‌لوی سهار په‌نیمو شپوکی
په‌غاړه زغ اوپه شپیلو کی
یا د ویر ژلو په شپیلو کی
ټول ستا دیاد نارې سورې دی
دا ستا د مینی نندارې دی
جنډی زرغون که په‌بید یا دی
د بربښ خواته په خندا دی
ترنك که خړدی په ژړا دی
دا ټول اغېز د مینی ستا دی
توله ښکلی دی ستا له‌لاسه
اې دیا سو الو پاسه پاسه
که‌لمر روښانه مخ‌ئې سپین دی
یا د سپوږمیه تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پر تمین دی
لکه هندا ره مخ د سپین دی
ستا دښکلا دا پلوشه ده
دا ئې یوسپکه ننداره ده

(٥) اجتماعی احساسات :

دیوه‌ملت‌دحیات له‌خوراښو مظاهرو خخه ددوی اجتماعی احساسات اوټولنی جذبات دی .

علماءوایی چه‌دیوه‌ملت‌اجتماعی احساسات‌دکورنی له‌محبته شروع کیږی ،اوټولې اجتماعی ښېگړی هم‌پر دغه اساس‌بنا کیږی !

نوگویا کورنی داجتماعی احساس لمړنی مرکز اوتودکانون دی، په‌پښتو کښې دغه اجتماعی احساس خورا پښتنی اوقوی دی، اودغه جذبات هم له‌پخوانو آریانانو خخه‌تراوسه پاته‌دی، دوی‌په‌نجابت اود کورنی‌په ژوندانه ډېرپابند وه، او هرکله به ئې له‌ښتنه نجیبه کورنی اوښه اولاد غوښتل .

دپښتنودشعریواساسی‌رکن ارمهم مضمون همدغه ټولنی احساسات دی، چه‌دبیټ نیکه‌داشعرئې په‌ښه‌ډول نمایندگی کوی،هلته چه وایی :

دلته دی د غرو لمنی زموږکړدی‌دې‌پکښې‌پلنی
داوگړیه‌ډېرگړی‌خدایه لویه خدایه ! لویه خدایه

دنومودی نیکه دا دعالکه چه‌قبوله‌شوه، او پښتانه‌ډېر شول،اوپه‌دوی کښې‌هم‌دپلرودغه پاك‌روح وجوړېدی اوپه‌ښو اجتماعی گڼو ښکلی شول .

په‌پخوانو اشعارو کښې دغسی‌مثالونه ډېردی‌اسماعیل اوخر ښبون دپښتنو دوه تنه نومودی شعراء اونیکونه داسی سره گران او مین وه چه دخر ښبون پر تگ اسماعیل هسی دارمان ناری و کړی

که یون دی یون دی
مخکی بېلتو ن دی
له کسې غر ه څخه
ځی خر ښبو ن دی

شیخ رضی لودی چه نصر بن حمید لودی ته ئی دشعر یوه قطعه استولې وه هم دخپل قوم اوټولنی په سپکتیا متاثر دی اوهسی ورته وایی :

لودی ستا په نا مه سپك شول
که هر څو مو در نا وه !

دمخه هم و ویل شوه چه شعر د شاعر دا حسا ساتو هنداره ده هر څه چه په زړه کښې وی هغه په شعر کښې وایی نودیوه ملت اجتماعی احساسات هم د دوی په اشعا رو کښې مېندلای شو په هر رازشعر او هر راز تخیل کښې دشاعر جذبات ښه ښکاری مثلاً یو شاعر چه دخپل ملت اوجامعې سره مینه لرې که څه هم ډېر ویرونه اوناورینونه پرراشی مگرسره د دغه هم دده هغه فطری احساسات نه کوټه کېږی اوهر کله چه دزړه له درده شعر وایی ، هم دده ملی عشق ځنی ښکاره کېږی .

مرثیې په شرقی ادب کښې خورا ډېر ی دی اوهم شهر ت لری ، شعر ا، چه په غم کښېو تلی دې هلته ئی دنیا وما فیها هېر کړی دی . مگر پښتون شاعر دماتم اوویر پر وخت هم دملت له غمه غافل ندی ، او کورټ خپل قوم نه هېر وی ، دخوشال خان زلمی زوی نظام مړ دی ؛ دی خودخپل زوی په مرگ ډېر غمجن دی ، مرثیه ئې وائې ، پسی ژاړی ، مگر ولی ؟

له دې جهته چه ده غوښتل « چه کشکی ځوان د پښتانه په ننگ کښی مړ وای »

وگوری ، د جامعې حب اودخپل قوم غم په دغه غم کښی هم پر غالب دی . دی دزوی په ویر دونی ندی ویر جن خوپه دې ویر جن دی ، چه دازوی می ولی دقوم پرلار قربانی نشو ، وائې :

کشکی ځوان دپښتا نه په ننگ کی مړ وا ی
سل افسوس چه شوې روان ته له تلتکه !

دپښتو پخوانی اشعار ټول دغه روح لری ، شیخ اسعدسوری چه کمه مرثیه دخپل پاچا محمدسوری په ویر کښی ویلې ده هلته دسور یواوغور عظمت مد نظردی .

داعلحیضرت شاه محمو د خور (زینب) د خپل ورور مرثیه ویلې ده ، دا د خپل زلمی او نو میالی ورور په مرگ ډېره غمجنه ده ، مگر تر هغه خوپه دې ډېره خواشینې ده ، چه دپښتا نه عظمت هم له ده سره ولاړ ، دپښتنو بریالی لښکر خپورشو ، په دغه مرثیه کښی د ملیت دمینی ډېر قوی احسا سات پټ دی ، دا څوبنده ئې ولولی ، :

ځوان ؤمېړه دتوری جنگ ونا
ولاړ دکام په نام وننگ ونا
د ښمن له ده په وینورنگ ونا
پر میدان شیر ویا پلنگ و نا
افسوس چه مرگ دده په خواسونا
قند هار واړه په ژړ اسونا
هو تکوژاړی محمودشاه څه سونا ؟
پښتنو ستاسی لوی سپاه څه سونا ؟
له اصفهانه تر فراه څه سونا ؟
پاچاچه ؤ حشمت پناه څه سونا ؟
د پښتنو پر تم فنا سو نا
قند هار واړه په ژړ اسونا

په دې ډول خورا عښتلی ټولنی احساس زمونږ په ملی اشعارو کښی میندل کېږی ، چه نر او ښځی په گډه په دغه مزیت کښی برخه اری .

(نوربیا)


اجتماعیات

د لیکونکی استاذ احمد امین
د مصر نامتو لیکونکی

دملتو دترقی مظاهر

مترجم ښاغلی گل پاچا خان الفت

هرملت دیوه دایمی تغیر خواته روان دی اوتل حرکت کوی ، هیڅکله داسی نه کیږی چه یو ملت په یوه حال پاته شی اوقرارو ثبات اختیار کړی مگر داحرکت کله دښه والی خواته وی اوکله د انحطاط لورته یعنی کله ئی نتیجه ښه او کله بده وی چه یوه حال ته ارتقاء اوتقدم وائی اوهغه بل ته تاخر اوانحطاط ویل کیږی .

د ترقی او انحطاط د لوری پیژندل څه اسانه کارنه دی چه هرسړی پرې پوه شی اوداورته معلومه شی چه مونږ کومې خواته ځوځکه چه ډیر شیان لاښه نه دی معرفی شوی چه دترقی سببو نه دی اوکه دانحطاط د همدی لا مله څوك پری یو راز او څوك بل راز حکمو نه کوی. کله کله داسی هم کیږی چه یو شی لکه حریت او مساوات د ترقی سبب وی مگر چه یو ملت پکښې ډیر افراط وکړی نو د انحطاط سبب وگرزی اوهمدغه شی دی چه دارتقا اوانحطاط دسببونو پیژندل ئی گران کړیدی .

بله داده چه هر ملت په مختلفو خوا و کښې تغیر کوی چه داتغیر ونه یو له بل سره مخلوط اومربوط دی چه ځینې دارتقا اوځینې دانحطاط سببونه بلل کیږی نو که سړی و غواړی چه په ټولو کښې فکرو کړی او صحیحه نتیجه واخلی باید چه زښت ډیر دقت وکړی او ډیر تکلیف په ځان واخلی ، ځینی وختونه داسی هم کیږی چه یوشی په یوه خوا کښې دترقی او په بله خواکښې دانحطاط سبب شی یعنی په اقتصادی لحاظ دترقی سبب وباله شی او د اخلاقیاتو په لحاظ انحطاط وگڼل شی یابالعکس شی همدارنگه کیدی شی چه یوشی په علمی ناحیه کښې دترقی عامل وی مگر په دینی لحاظ ضعف وی نو په دغسی حال کښې یوه صحیحه نتیجه اخستل ډیر گران اومشکل وی هر کله چه دیوه عامل د احال وی سړی به په ډیر وعواملو اوسببونو کښې څه فیصله کوی ؟

وروسته تردی لنډ تمهیده اوس اصل موضوع ته راځو اوپوښتنه کوو چه دیوه ملت دترقی مهم مظاهر کوم دی ؟ ؟

ښائي چه ديوه ملت دافرادو عقلي او عاطفوي نزديوالي دارتقااوتقدم آغاز اوفاتحه وګڼل شي اوهغه شعور چه هرفردلي دملت په مقابل کښې لري چه خپل ځان دملت يوجزبولي او ګمان کوي چه زه دځان او دملت دخير دپاره کار کوم او په هرڅه کښې ورسره شريك يم ديوه ملت دتکوين اوتشکيل اساسي رکن وشمير و ځکه چه ديوه ملت په تشکيل کښې دمصالحو او عواطفو اوژبې يووالي اساسي ارکان دي نوهرملت چه ددغه توحيد عميق او پوره احساس کولي شي هغه حق لري چه ملت ورته وويل شي دهمدي لامله هرملت کوښښ کوي چه دټولو افرادودپاره يوقانون ، يوراز تعليم اويوعمومي نظام ولري چه ټول ورته تابع وي اويدې ټولو خبرو کښې همدغه يوفرض دي چه هغه ددغه وحدت ساتل دي .

که چيري يوملت خوټوټې شي چه ديني اختلافات اوراز راز تعليمونه پکښې وي اوبېل بېل آداب ولري نوهغه ملت هېڅکله يوحقيقي مفهوم نلري او هېڅکله رښتيانې ترقي او وړاندي تګ نشي کولي .

کله کله يوملت دافرادودثقافت په لحاظ يوراز نه وي اويوله بله اختلاف لري چه دغه راز اختلاف سړي په هرملت کښې وينې مګر په يوه مترقي ملت کښې دثقافت اساس يووي اواختلاف په کميت کښې وي نه په نوعيت کښې لکه لباس چه له يوه فلاح څخه نيولي تر ياد شاه پوري ټول همدغه يوه دريشي اغوندي چه عبارت له پتلون او کرتې څخه وي مګر دټوټې بڼه والي دخياط استاذي پکښې فرق لري، خوشرقي ملتونه داسي نه دي ځکه چه هلته اساس هم يونه وي اوپه هرڅه کښې ديوه ملت افراد يوله بله اختلاف لري يعني لکه چه په لباس کښې يو له بله نوعي اختلاف لري چه ځيني پګړي او ځيني خولي پرسر کوي ، خوک چپني اغوندي اوخوک اروپائي لباسونه لري همدارنګه په عاداتو، اخلاقو اوتربيه کښې هم سره لري وي اوزياد اختلاف لري نو که چيري يوملت دغه رازوحدتونه لري اوپه هرڅه کښې سره نزدي وي داټول دترقي مظاهر دي اوخومره چه له دغه وحدت څخه لري والي موجودوي هغه دانحطاط علامه ده .

څنګه چه دخښتن تعالي توحيد يعني هغه يوګڼل ددياانت اعلي مظهر دي اود زواج توحيد يعني يوه ښځه لرل دکورنۍ ارتقااوسعادت لوي سبب دي همدارنګه ديوه ملت دغه رازيووالي دملت لوړ مظهر بلل کېږي ، دهمدي لامله کوم ملت چه دترقي په لور روان وي هنوي په هرڅه کښې ځانونه يووالي ته نزدي کوي اوخپل ټول اساسونه يعني تعليمي نظام اوقانوني اصول يادارا از نورشيان يو کوي اوله تشتت څخه ځان ژغوري .

يوشي بل هم شته چه دترقي ښه مظهر باله شي چه هغه ديوه ملت جماعتي اوصنفي تقسيمات دي چه يوملت په څوټولګيو وويشل شي اوهرټولګي ته يوه وظيفه وسپارل شي چه هغه سرته ورسوي اودهرټولګي روستني غرض دملت مصلحت اوخيروي. کله چه يوجماعت په بدوي اوابتدائي حال کښې وي ياقبيلوي ژوندون لري نوهلته يوفرد چه دقبيلي شيخ اومشر باله شي دسلطي خاوندوي اومرکزيت لري مګر هغه وخت چه هغوي ترقي وکړي اوملت ورڅخه جوړ شي نوکارونه اووظايف هم زيات اومتعدد شي چه متعدد کسان ګډ په ځاي کوي اودکارودپاره بېل بېل مرکزونه پيدا شي لکه شوري محکمي، عسکري مراکز، ديني اشخاص، تعليمي پوهان اودفن وصنعت خاوندان يادا سي نور... کله چه دغه ملت نوره ترقي هم وکړي نودخپلي ترقي په اندازه ئي کارونه زياتېږي او وظايف پکښې ډېرېږي چه دهغو کارو اووظائفو تنظيم اوادارهغوره اوبهتر واشخاصو ته سپارل کېږي اوهرکار پخپل اهل پوري تعلق نيسي مګر ديوه ملت دترقي مظهر يوازي دکارونو اووظايفو زيات والي نه دي بلکه ددغو مختلفو جماعتونو ترمينځ منظمه علاقه ترهرڅه زيات اهميت لري اومهم عامل بلل کېږي يعني بايد يوملت په مجموعي ډول ديوه ماشين اوميخانيکي آلي مثال ولري چه هرجماعت ددغې آلي له سيرسره موافقت وکړي اوټول کارونه منتظم صورت پيدا کړي هسي نه چه هرجز مستقل حرکت ولري اوله بل جز سره ګډ څه ارتباط نه وي اوداراز وحدت هم دهغه پخواني او ذکر شوي توحيد له اقسامو څخه يو قسم باله شي نو يوملت بايد څه معين اغراض اومقاصدولري چه يوله بل سره معارض اوضد نه وي او کومه عامله قوه چه په دغه ملت کښې کارکوي هغه که څه هم مختلف ټولګي وي او بېل بېل انواع ګڼل کېږي چه ځيني په

اقتصادی خوا او ځینې په اخلاقی، تعلیمی، اجتماعی خوا کښې کار کوی بیاهم باید یوله بله مفاهمه ولری او ددغو اغراضو اومقاصدو په حاصلولو کښې سره مټ اوباز وشی ځکه چه که دوی یوله بله نه وی خبر اوپه مطلب نه وی پوهېدلی نوهغه څه چه یوئې جوړ وی بل به ئې ورانوی او هغه تنسته چه یوئې اوبې بل به ئې شلوی او دټولو قوا به په همدغه ډول یعنی یودبل په مقابل کښې صرفېږی .

څومره اجتماعی ناحیې اوخواوی چه یو ملت لری همدارنګه هره ناحیه ځانته دترقۍ یوواضح او ښکاره مظهر هم لری، که یوه ملت په سیاسی خوا کښې ترقی کړی وی ارومر وبه هلته اجتماعی عدالت څرګندوی چه د دغی ترقۍ مظهر به باله شی یعنی هلته به شعب پخپله په ځان باندی حاکمیت لری چه دوی به ځینې کسان دقوانینو جوړ ولو دپاره غوره کړی وی او داغوره کول به د دوی پخپله خوښه وی، هلته به یوه لویه لاره موجوده وی چه هرفردا جتماعی وظایفو ته ځان ورسولی شی اودخپل کفایت او لیاقت په اندازه کارو کړی شی اوبی کفایته اوښه استعداده به هیڅوک یوه ځای ته په ډېرو پیسو، لوړو مانیو، یاکومه بله مادی وسیله نشی رسېدلی.

په اقتصادی خوا کښې دیوه ملت ترقی همدغه شی دی چه افراد اوحکومت د واړه ثروت ګټلو ته متوجه وی اوغواړی چه یوڅه وګټی اودعام خیر اوعمومی نفع په لاره کښې ئی صرف کړی، نو که چیری یوفر دخپل مال دځان اوخپلی کورنۍ دتقویې د پاره صرفوی داهم دملت مصلحت اوخیر بلل کېږی ، هر کله چه یوفر د خپل حیات منظم کړی اود خپل ځان او خپلی کورنۍ په ارتقا کښې کوښښ وکړی یعنی دی پدی وپوهېږی چه سړی مال څنګه ذخیره کوی او څنګه ئی صرفوی نو بیاهر وخت خپل مال دخپل بدن، عقل او روح په تقویه کښې صرفوی او خپل ژوندون پری سموی چه داهم دخیر عام اوعمومی مصلحت لاندی راځی همدارنګه که یو فرد دخپل مال یوه زیاتی برخه دعمومی نفع دپاره خاصه کړی اوپه داسی ځای کښې ئی صرف کړی چه دده زړه ئې غواړی داټول داقتصادی ترقۍ مظاهردی مګر که چیری یوسړی خپل مال اوثروت پداسی لاره کښې صرفوی چه دده او د ده دعایلې دضعف موجب وی او دوی په لذایذ و اوعیاشی کښې ډوبوی چه دد وی دمال او ټولو قواؤ دا تلاف سبب ګرزې یعنی خپل مال بنګ وبوزه کوی یاګې په قمار اونورو رذایلو کښې بایلی نودا دانحطاط مظهر بلل کېږی اوڅنګه چه دا رازکار ونه د یوی کورنۍ دبربادۍ وسیله ګرزی دیوه ملت دضعف او انحطاط موجب هم ګرزی .

اجتماعی ثروت هم د دخل اوخرڅ به اعتبار همدغه حکم لری لکه چه دافرادو ثروت ئی لری ، که داثروت هم دعمومی مصلحت دپاره صرفېږی اوپه صرفولو کښې ئی هم د عمومی او اولی ضرور یاتو مراعات کېږی نو دا دترقۍ مظهر شمېرل کېږی او که داسې وی چه اخستل ئی له یوی طایفې څخه وی اوصرفول ئې دبلی طبقی دمصلحت دپاره وی یاپخواله دېنه چه دیوه کرونکی دپاره ښې اوبه پیداشی اوداستوګنی په ځای کښې ئې صحی مراعات وشی اوخونه ئی رنړاشی دځینې زوایدو په تهیه کښې مال صرف شی نودادانحطاط مظهر باله شی.

غرض دادی چه ثروت تنظیم زښت ډېر اهمیت لری او ډېره اعتنا ورته په کار ده ځکه چه د مال اوثروت ترقی دژوند اوحیات په ټولوخواوکښې تاثیر لری ، همدغه ثروت دی چه صحی ، روحی او عقلی ارتقا پری تکیه اواستناد کوی اوپه دغوټولو ناحیو کښې نهضت پیدا کوی لکه چه دمال اوثروت انحطاط په دغو ټولو خوا و کښې انحطاط راولی .

زمونږ دا بحث که څه هم ډېری خواوی لری او په دی لنډه مقاله کښې ټول بحث نشی ځائیدلی مګر په اجمالی ډول ویلی شوچه دیوه ملت د ترقۍ مظهر او ښه مقیاس همدغه شی دی چه هم حکومت پخپلو تصرفاتو او کارونو کښې د ملت خیر غواړی اوهم پخپله ملت اوافراد پخپل خیر پسی ګرزی دلته دترقۍ یوبل مظهر هم شته چه هغه مطلق اومجرد صورت لری او دملتونو دترقۍ مقیاس کېدلی شی چه هغه دیوه ملت خپل ګمان اوباوردی یعنی که له یوه ملت څخه پوښتنه وشی چه تاسی دترقۍ خواته روان یاست او که د انحطاط لورته؟نودوی چه هر ځواب ووائی هغه جواب ددوی دحال مظهر بلل کېږی ځکه چه دغه مجموعی شعور د یوه ملت د سیر او حرکت لوری ځانته معلومولی شی .

عقل

(۲)

دعقل حقیقت او قسمونه

له المقتطف څخه
دښاغلی «واسعی» ترجمه

عام خلق د عقل په تعریف او حقیقت کښې سره مختلف دی مگر خدائی علماء اوربانی پوهان چه د څښتن تعالی فضل پرشوی او دده د خوا الهام ورته شوی دی ددی غوټی په حل اوپرا نیتلو موفق شوی او د څښتن تعالی دقرب او اطاعت دنورا نیت په برکت ئی درړه ستر گی روښانه شوی نوئې ویلی دی چه دعقل اطلاق په مشترك صورت سره پرڅلورو معناو کیږی .

اول : عقل یوداسی صفت دی چه دهغه پذریعه انسان دنورو حیواناتو څخه بیلتون اوتوپیر موندلی ، اودهغه صفت په واسطه دنظری علومو ، اونورو فکری نازکو اودقیقو صنایعو دقبول اوزدکړی قابل شوی دی ، او همدغه صفت دی چه ځینو روحانی عارفانو او عرفانی حکیمانو پدې وینا تعبیر ځنی کړی اوویلی ئی دی :
«چه یوه غریزه ده چه دهغی پذریعه دنظری علومو درك اوپوهنی ته آماده گی راځی .او گویایو نور دی چه په زړه کښې واچول شی په وسیله سره ئې د شیانو اومو جوداتو دحقیقت پوهنی ته سړی مستعد شی»

دوهم قسم: عقل هغه علوم دی چه د یوه ممیز هلك په ذات کښې وجود ومومی او هغه عبارت د جایزاتو دجوازه اودمستحیلاتو داستحالی څخه دی مثلاً لکه یوهلك چه پدې وپوهیږی چه دوه تریوه ډېر دی ، یاداچه یوسړی په یوه آن کښې په دوو ځایونو کښې نشی موجودېدای .دادعقل هغه قسم دی چه منطقیان او دعلم کلام علماؤ پکښې زغېدلی اوددوی په عقیده عقل همدغه ته وائی ، اودعقل دغه تعریف چه دوی کړی دی حقیقتاً صحیح اوسم دی ولی دادجائزاتو په جواز ، او دمستحیلاتو په استعحاله یو ضروری تسلیم دی او هیڅ انکار نه ځنی کیږی .

دریم قسم: عقل هغه علوم دی چه دزمانی دسړواو تودو په تېرېدو دتجربې او از میښتو دخواانسان ته ورحاصل شوی وی ، اورښتیا هم داده چه پرهرچا چه سړی اوتودی ورغلی اوقسم قسم شپې ؤ روځی ئې لیدلی وی هغه ته په عرف اوعادت کښې عاقل ویل کیږی ، او چاچه تجربی نه وی کړی هغه ته ویل کیږی چه غبی او جاهل دی نوداقسم علوم او معلومات هم دعقل یوقسم بلل کیږی .

څلرم قسم: عقل دادی چه هغه فطری اوغریزی قوه اوموهبه داسی لوړی اوهسکی مرتبی ته په انسان کښې ترقی وکړی چه دټولو چارو عاقبت په وسنجوی اودشهوتونو اوسمدستی ناوړولذتونو او خوند اخستلو او ددنیوی هواؤهوس څخه په راوگرزی. اوهواؤ هوس پداسې یوه محدوده دائره اومعین چوکاټ کښې سره راحصار کړی چه په هیڅ صورت ترهغې دائری نشی ځنی وتلای نوچه یوڅوك دعقل دغې درجې ته ورسیږی اوددی لوړی اوهسکی مرتبی څښتن شی نوئې خاوند پدغه معنی عاقل بلل کیږی چه هر اقدام ئې ددې جهته وی چه د کارونو عاقبت ته گوری که دیوه کار عاقبت په خیرؤ اقدام پرکوی او که ئې آخر خراب ؤ ځنی راترشا کیږی اوځان ځنی راټولوی ، اودنورو کم عقلا نوغوندی د فوری شهواتو اوسمدستی لذاتو اخستلو اوخوندور کولو په سایقه په اقدام کښې عمل نکوی ، مثلاً رشوت ددی جهته نه اخلی چه آخر ئې خراب دی که څه هم پدنیا کښې نه رسوا کیږی اورښتیا ځکه وائی چه آخر ئی کامیابې ده که څه هم دا گړی عذاب اوزحمت ولری داعاقبت ته کتل او دهر کار آخر سنجول هم یوه دهغو انسانې خواصو څخه ده چه دد غه پو اسطه انسان دنو رو حیو اناتو څخه امتیاز

اوبیلتون موندلی دی یعنی انسان ځکه انسان دی چه دهرشی اوهر اقدام اواحجام عاقبت ته گوری اوحیوان ځکه حیوان دی چه دا خاصه او ممیزه نلری که څه هم ځینی حیوانات (دهغو کسانو په عقیده چه بزوگان دیوه قسم انتباه اودانسانی ممیزاتو څښتنان بولی) هم داقسم بصیرت لری مگر په حقیقت کښې دغه بصیرت په هغو حیوانا تو کښې یوی حیوانی غریزی څخه صادریږی اودعقل او حقیقی رویې دخواڅخه نه وی.

نودعقل لمړی قسم اول اساس اولمړی سر چینه ده اودوهم قسم اول قسم ته ورنز دی دی او دریم قسم داول اودوهم قسم څانگه ده ځکه چه دضروری علومو دقبو لولو په قوت اوهم ددغو علومو په مرسته دتجربی علوموو جود ممکن کیدای شی .

اوڅلورم قسم دپای نتیجه او آخره ثمره اووروستنی پا نگه اوسرمایه ده چه دهر عاقل او پوره انسان د پای مقصد اواعلی مطلب دی .

نودوه لمړی قسمونه طبعی دی او دوه ور و ستنی ئی کسبی دی .

حضرت سعیدبن مسیب روایت کړ یدی چه حضرت عمر ابی ابن کعب ، اواباهریره رضی الله عنهم درسول الله صلی الله علیه وسلم بحضور مشرف شوه او مجلس ته ئی ورغله نوئی عرض وکړچه : یارسول الله خوراپوه سړی کم سړی دی؟ نوده وفرمایل عاقل ، بیادوی پوښتنه وکړه چه ترټولو لوی عابدڅوك دی؟ ده و فرمایل: عا قل ، بیا دوی پوښتنه وکړه چه ترټولو زیات او بهتر سړی کم یودی ؟ ده وفرما یل : عاقل ، نو دوی عرض ورته وکړچه عاقل هغه ندی چه مړ انه اومروت ئې پوره ، اوفصاحت ئې ظاهراوښکاره اوپه لاس کښې خلاص ، او درجه ؤ مرتبه ئې لوړ ه وی ؟ نو رسو ل الله صلی الله علیه وسلم وفرما یل : چه دا شیان چه تاسی یاد کړه ټول ددنیوی عقل او هوښیاری شرایط دی عاقل هغه دی چه دڅښتن تعالی څخه بیر یږی او متقی وی ، که څه هم په دنیا کښې خوار اوترټلی او عام خلق په سپکه سترگه ورته گوری .

زما په عقید ه لکه ځینو عر فا نی محققینو چه هم غوره کړیده دا خبره سمه راغلې ده چه عقل په لغت کښې هغه جبلی غریزی ته ویل کیږی چه د عاقل انسان په فطرت کښې ایښووه شوې ده چه د هغه پذ ریعه سره دضر رمن ، اومفید شی ، اودجائز ، اومستحیل لار پیدا کوی چه داسی ضرر لری او دا نفع لری یا دا جائز دی او د ا مستحیل د ی ـ دغه ر نگه په استعمال او اصطلا ح کښې عقل دغی فطری غریزی ته چه مونږ ئې او س دستی بیان وکړ وا ئی . مگر دغه دعقل نوم چه پرعلومو ایښود شویدی پدې مناسبت دی چه هغه علوم دعقل ثمره او نتیجه ده لکه دیوه شی چه تعریف پخپله ثمره سره وشی مثلا لکه چه وویل شی چه علم بېره اوخشت دی او عا لم هغه څو ك دی چه دخدا یتعالی څخه بېر یږی، دا په هغه صورت کښې چه بېره دعلم ثمره اونتیجه وبو لو . لنډه دا چه: دعقل دا څلور قسمو نه څلور سره موجوداودعقل نوم پر څلوروسره ایښوول کیږی. داهم بایدووایو چه هغه نظری علوم چه انسان ئی په فطری عقل سره کسب کوی ، او حـاصلوی ئې دهغو شیانو دجملې څخه ندی چه دخا رج څخه دا نسان پر عقل وار دیږی ، بلکه په حقیقت کښې گویا د انسان په باطن کښې پخپله داسی پټ پرا تـه دی لکه په ځمکه کښې اوبه یااوربه بکری اود اورټك په ډبره کښې یالکه غوړی په زیتون کښې چه دځمکی څخه په کیندلو او به پید اشی ، او د اورټك څخه په اصطکاك او روغـو رځی او د زیتون څخه پـه نښتېځلو تېل اوغو ړی و وزی .

او پدغد منا سبت دا حدیث شریف را غلی دی چه : (کل مولود یولدعلی الفطره . الخ) نوددې معنی داده چه ایمان پر خدای دهرانسان په خاوره اوضمیر په عقلی فطرت سره مر کوزاوایښووشویدی، اوترهغو څویومانع ئې داظهاراوښکاره کولو څخه نشی پکښې پیدا انسان هروقت اقرار په کوی نودغه جبلت اوفطرت عیناً عقل دی او هغه آثاراو معلومات چه دده څخه راوزی هغه هم عقل، یا علم، یافهم اوپوهنه ؤادراك یالدغه ډوله څخه نورنور نومونه پرایښوو کیږی . «نوریه ۱۰مخ»

دشرق علمي ترقيو ته يوه دغور کتنه

بناغلي محمد اعظم خان «ايازي»

که مونږ دتاريخ پاڼې دغور په کتنه وګورو ، ښه به راته ښکاره شي ، چه مسلمانانو دعلم په هري څانګې کښې به څه شان ترقي کړې دی ، څه علوم او فنون چه نن روڼ به دنيا کښې ليدل کېږي او دنيا ګې په حيرت کښې اچولې ده اصلي ماخذ ئې هم هغه علمي تحقيقات او معلومات دی ، چه مسلمانانو کړي وه ، دخليفه هارون الرشيد زمانه په اسلامي تاريخ کښې دعلمي او عملي تحقيقاتو په لحاظ يوه شاندار زمانه او دعلمي ترقيو يوه منلې شوې چينه وه هغه بيت الحکمة ، چه اساس ئې دهارون الرشيد په زمانه کښې ايښوول شوی و ، دمامون الرشيد په زمانه کښې دعلمي او فني تحقيقاتو يوه جاري چينه وګرزېدله .

ددې ګړندی او بناغلی خليفه په زمانه کښې (محمد ابن موسی) دمحکمی ديمايښت معلومات وکړه ، او (القيدی) دفارسی ، يونانی او سنسکرت څخه دفلسفې طبی او رياضی کتابونه په عربی ترجمه کړه ، او پر هغو ئې شرحی وليکلې او نوی تحقيقات او معلومات ئې په يکښې وکړه ، او دا علوم ئې ولوړی درجې ته ورسول دبغداد دعلمي تحقيقاتو داخصوصيت و چه عربو دابتدا څخه دمعقولاتو او تجرباتو پر اصول باندی تنقيدات شروع کړه ، يعنی هيڅ شی به ئې بيله مشاهدې او تجربې صحيح نه مانه . يعنی دفطرت دمظاهراتو تحقيقات په معقول ډول سره کول ، دخالق تعالی ديژندلو يوه لويه وسيله ده او هم دغه سبب و چه دقرآن شريف تفسيرونه دوی هم په دغه اصول سره ليکل ، په بغداد کښې دعلمي تحقيقاتو دپاره يوه بله موسسه قائمه شوی وه ، چه هغې ته به ئې اخوان الصفا) ويله ، ددې موسسې څلويښت اعضاوه چه علمي تحقيقات به ئې دمعقولاتو او تجربو په ډول سره کول ، عربو دا جسامود کشش قانون معلوم کړ ، که څه هم ديورپ ځينی مورخين وائی ، چه ددې قانون موجد (نيوټن) دی ، ليکن حقيقت خودا دی ، او داثابته شوی هم ده ، چه عربو خو صدی له مخه د کشش قانون معلوم کړی و ليکن افسوس دی چه دمتأخر ينو د تنګ نظری او تعصب په سبب دوی پر دی قادر نه شوه چه ودې قانون ته نوره ترقی ورکړی .

فارابی او ابوبکر رازی دفلسفی او طب لوی پوهان او عالمان ګڼل کېږی ، حسن ابن حسين څه معلومات او تحقيقات چه د مساحت په علم کښې کړی دی تر اوسه يورپ وهغوته دقدر په نظر ګوری ، او فائدې ئې ځنی اخلی ، ليکن افسوس دی ، چه مونږ ته دهغو معلوماتو چه د ه ليکلی دی تر اوسه لا نوم هم نه دی معلوم ډېر خلق به دابن خلدون دنامه څخه باخبره وی ، ابن خلدون ليکی چه فخر الدين رازی او امام محمد غزالی لمړی سړی و چه په دينياتو کښې ئې دمنطق اصول او قوانين جاری کړه الغزالی دمذاهبو پر (ساينس) باندی يو کتاب ليکلی دی ، چه مضمون ئې د (ډيکارټ) دکتاب سره ، چه ډېر وروسته تر دې کتاب ليکل شوی دی ، دومری مشابهت لری چه سړی ويلای شی ، چه د (ډيکارټ) کتاب هو به هو دالغزالی دکتاب ترجمه ده ، دابن سينا دطبی تصانيفو څخه دار وپا اطبا تر اوسه پوری لا فائدې اخلی دمسلمانانو تاريخی تصنيفات تر سلو لا هم زيات دی . چه هر يو ئې په خو جلدو کښې ليکل شوی دی ، مسلمانانو دجغرافيی په علم کښې فوق العاده کوښښ او تحقيقات

(« پاته د ۹ مخ »

داخو دعقل او هنر مانو بيان وُ چه دعقل خاوندان وي ، او عاقلان ورته ويل کيدای شی ، مګر هغه کسان چه عقل ځنی تللی او کوچ ئې ځنی کړی وی دهغو څخه غير داحمقانه او جاهلانه او د ړانده غوندی دغبا وت دکارونو څخه بل څه نه صادريږی او لکه يو ړوند چه په يو مخونه ورننوزی په لوښو او ارګو کښې خيژی او وائی ، داچا په لار کښې ايښی دی او نور کسان پځواب کښې ورته ووائی : چه لوښی او ارګی پر خپلو ځايو پراته دی خو نقص ستا په ستر ګو کښې دی او ته نه وينی !!!

(نور بيا)

کړی دی ، چه دهغو څخه دیورپ خلقو ډیری فائدی اخستی دی، دجغرافیی پرعلم باندی اول سړی چه کتابونه لیکلی دی (قدامه) دی . دجرمنی لوی محقق (وان کریمر) لیکی چه په دنیا کښې لمړی سړی چه دمځکی دگردوالی اودقطبو دشپې اودروځی اوزدوالی حال معلوم کړی دی (قدامه)و ، دافاضل اومحقق (وان کریمر) لیکی چه (قدامه) دجغرافیی په علم کښې ډیرمحققانه تحقیقات کړی دی ، د (سسلی) په جزیره کښې چه په بحیرهٔ روم کښې واقع ده (ادریسی) یولوی جغرافیه دان تیرشوی دی . اوپه دې علم کښې ئی ډیر معلومات درلودل ، دهغه ځای دحاکم دپاره دمځکی یوه کره دسپینوزروڅخه جوړه کړه اودسروزرو په تورو ئی یه هغې کښې دهغې زمانی دملکونومونه اوحدو دلیکلی و .

داندلس او دمصر دخلفاو حال دعلمی معلوماتو اوتحقیقاتو په باره کښې تربغداد څه په کمه نه و ، خصوصاً په اندلس کښې دعلمی او عملی تحقیقاتو داسی ترقی وه چه بغدادئی مات کړی و ، (زهرابی) پرجراهی باندی یو کتاب لیکلی دی ، چه تراوسه موجود دی اودیورپ اطباء بی شماره فائدې لحنی اخلی ، علامهٔ ابن رشد په طب او فلسفه کښې ډیر مهارت درلود اوپه دې علومو کښې ئی قابل قدر کتابونه لیکلی دی دمسلمانانو دعلمی ذوق اندازه ددې څخه ښه معلومیږی ، چه فقط دبغداد په ښار کښې تردیرشو زیات دارالعلوم وه ، چه په هر یوه کښې بېل بېل دارالاقامې وې ، معلمینو او متعلمینو ته به ئی علاوه ترتنخوا اووظیفې جامه او خوراک هم ورکاوه ، تراوپازیاتی کتب خانی په اندلس کښې وې ، داهغه زمانه وه چه چاپ خانې لانه وې ایجادې شوی ، او دیوه کتاب په لیکلو اوتیارېدو به په زرو روپۍ اوډیر کلونه خرڅېده دخلیفه (الحاکم ثانی) دکتب خانې فهرست په څلوېښتو جلدو کښې لیکل شوی و اودا کثر وامراو کتب خانې ددوی په خیلو کورو کښې وې ، ددې کتاب خانو څخه نه یوازی مسلمانانو بلکه ددنیا نورو قوموهم ډیری فائدې اخستې .

(دی برگ) په خپل کتاب کښې لیکی چه دعربی فلسفې امړی اساس دبغداد دخلفاو په زمانه کښې اتمی صدۍ کښې کښېښود شو ، او دقرطبی دخلفاؤ په زمانه کښې تردوولسمې صدی پوری وخیل کمال اوعروج ته ورسېده ، لیکن په قرطبه کښې، دبنی امیه دخلفاو ترزوال وروسته دتنگ خیالۍ اوتعصب په سبب په عین شباب کښې ژوندۍ په گور شوه ، لیکن له څه ددې چه داسلامی فلسفې شین باغ ویران شی ، ددې باغ شنه اوتازه نهالان دنوروقومو لاس ته ورسېدل ، او هغو ته ئی وده ورکړه او دهغو په خوشبویو گلانو ئی دیورپ دفلسفې باغ خوش بوی کړ .

(مستربر کس ایلان) په خپل کتاب کښې (The law of civi Lisition) لیکی چه په یوولسمې صدۍ کښې قاهره ، اوبغداد داسی عالیشان اوعلمی ښارونه وه ، چه تراوسه دنیادقدر په سترگو ورته گوری دی وائی چه خلیفه عزیز بالله په قاهره کښې یوه جامعه جوړه کړه ، چه دمسلمانانو ترټولو جامعو لوړه اولویه جامعه وه وایی ، چه ابن رشدو عربی فلسفې ته دومری ترقی ورکړه چه دنیائی په حیرت کښې واچوله ، دهارون الرشید عظمت اوشان دعلمی ترقیو په لحاظ تراوسه پوری په دنیا کښې ضرب المثل دی ، دده په زمانه کښې صنعت اوحرفت دومری ترقی وکړه ، چه ډیر علمی آلات ایجاد شوه ، ساعت دهارون الرشید په زمانه کښې ایجاد شو ، چنانچه هارون الرشید دتحفی په ډول یو ساعت (شارلمین) ته ولیږه دی دعلمی ساینس موجد عرب گڼی ، اولیکی چه عرب په کیمیا کښې ډیر هوښیار وه ، اوپه دی علم کښې ئی ډیر اختراعات وکړه دطبابت په لحاظ دوی دیورپ په مقابله کښې ډیر پرمخ تللی ؤ ، په هغه زمانه کښې چه یورپ دمهلکو اومتعدی بیماریو علاج په دم اوچپ کاوه ، (الرازی) دبغداد شفاخانی په علمی اوعملی اصولو سره چلولی ، ده په لسمی صدۍ کښې یو کتاب چه په لسو جلدو کښې و ، ولیکه ، دا کتاب په سنه ۱۵۱۰ع کښې په وینس کښې چاپ شو ، اودیورپ ټولو اطباؤ دطبابت په فن کښې استعمالاوه ، الرازی دتشریح په فن کښې یولوی ماهر اوپوه طبیب و ، عربو دعلم ریاضی سره هم ډیر ذوق درلود ، اوپه دی علم کښې ئی ډیر لوړ اونوی تحقیقات

او اختراعات وکړه چنانچه دالجبر اعلم په ریاضی کښې دعربو ایجاددی، داقلیدس فقط اوه مقالې وې، عربو ئی تعدادودوولسو مقالو ته ورساوه او ډېره ترقی ئی ورکړه په سنه ۱۰۰۰ع کښې ابوالحسن پر علم مساحت باندی یو ډېر قیمتی او قابل قدر کتاب ولیکه، خلیفه هارون الرشید په بغداد او دمشق کښې رصدخانې جوړی کړی چه ددغو رصد خانو په ذریعه به ئې، دفلکیاتو معلومات کول، عربو تر دیارلسمی صدۍ پوری دعملی ساینس دمعلوماتو دپاره ډېر علمی آلات جوړ کړی وه، لکه اصطرلاب، جرثقیل قطب نما او نور آلات چه دهغو په واسطه به ئی خپلی علمی تجربی کولې.

مستر بریفالټ (Nr. brifalt) په خپل کتاب کښې (Making of humanity) لیکی چه بیکن (Baikin) داکسفورډ په دارالعلوم کښې دعربی ادب او ساینس تعلیم دهغو خلقو څخه زده کړ چه دعربو شاگردان وو، دی وائی چه دعملی ساینس موجد عرب وه، نه (بیکن) او نه هغه خلق وه چه وروسته تر (بیکن) پیدا شوه، بلکه ددې علم موجد عرب وه داسلامی تهذیب شاندار اثرات چه دیورپ په مړه جسم کښې ئی، د ژوند روح پیدا کړ، نه فقط اسلامی ساینس و بلکه داسلامی تهذیب بی شماره ښېگړی دی، دیورپ حکماء وائی چه دعربی ساینس زمونږ پر موجوده ساینس باندی فقط دا احسان نه دی، چه دده په ذریعه حیرت راوړونکی ایجادات او اختراعات شوی دی او کیږی بلکه دعربی تهذیب پر ساینس باندې تر دی زیات احسان دی ولی چه دعملی ساینس هستی دعربی تهذیب په واسطه قائمه شوه.

دتحقیقاتو نوې طریقه او دتجربو نوی او عملی قاعدې اولاری دریاضیاتو اصول دمسلمانانو په همت او علمی تحقیقاتو په دنیا کښې پیدا شوه او یورپ فائدی ځنی واخستلی لنډه دا چه دیورپ ډېر حکماء دخپلو علمی او عملی تحقیقاتو ماخذ دمسلمانانو هغه معلومات او تحقیقات گڼی چه دوی کړی وه، اسلامی تعلیمات دټولې دنیا دښېگړی، نجات او نیک مرغۍ دپاره نازل شوی دی، داسلام په عدل او انصاف، حریت او مساوات، تهذیب او تمدن، علم او عرفان دتاریخ پاڼی ډکی دی، هیڅوک چه دانصاف سترگی لری، ددی رونړه حقیقت څخه انکار کولای نه شی، اسلام دنیا ته دخالق او مخلوق حقوق دسعی او عمل، د اخلاق او انسانیت، دتهذیب او تمدن سمی لارې ورښوولی دی، که مونږ دخپلو اسلافو دښو کارو او علمی تحقیقاتو آثار دتاریخ په کتابو کښې ولټوو، او ددنیا پر موجوده نقشی دعبرت په کتنه وگورو، پر خپل موجوده حالت به مو ډېر افسوس راشی، چه څه و، او څه شوو که داوښکو پر ځای وینی توی کړو، هم خو به لا لږوی، که علم و که تمدن، که حرفت و که صنعت که تجارت و که سیاست که آغائی و که سرداری، ټول زمونږ په لاس کښې و، لیکن، افسوس دی، چه زمونږ دغفلت لټۍ، بې اتفاقی، او جگړو په سبب څه چه مو درلوده. ټول مو دلاسه ووتل، او دنورو لاس ته ورغلل او اوس دپردو محتاج یو دخدای تعالی دایومنلی قانون دی، چه هیڅ قوم بیله سبب نه خواروی، او نه ئی لوړوی، که دی دخپلی لوړتیا دپاره هڅه کوی، نو خدای تعالی ئی دخپلی مهربانی په سبب زیات لوړوی، او که دخپلی ټیټ والی و خواته ئی میل وی، نو الله تعالی ئی دسزا په ډول خواروی، دخدای تعالی په دې قانون کښې دهیچا او دهیڅ قوم رعایت او تخصیص نشته، دټولو قومو دلوړتیا او ټیټ والی تاریخ پر دی قانون شاهد دی که مونږ د قومو دلوړتیا او ټیټ والی اسباب په تاریخ کښې ولټوو یقین دی چه اصلی سبب ئی هم دا دی، دپښتو یو متل دی (څه چه دی وکرل، وبه ئی ریبی) دا یو داسی روښان دلیل دی چه څوک انکار ځنی کولای نشی نو هغه وخت چه دشرق خلقو علم درلود، لوړو، او اوس چه ئی له خپله میراثه څخه لاس واخیست او دبې علمۍ په گډهل کښې ولوېده کښته شوه

د مور او پلار مسئولیت

د کوچنیانو په مقابل کښې

ښاغلی «نظامی»

زمونږ کوچنیان بخواله زېږېدو څخه ترڅو چه دخپل ژوند پروګرامونه ترتیبوی لوی لوی مسئولیتونه دخپلو خپلوانو اومور اوپلار پرغاړه لری .

ځکه چه دابې آلایشه معصوم چه زړه ئې دهر راز بدیو څخه سپېڅلی اومنزه دی ، کله چه دنوی دنیا دګرته راځی ، ظاهره اوښکاره خبره ده چه یو بې ارادی او ضعیف مخلوق وی ، که د دې ضعیف مخلوق بدنی روزنه او اخلاقی تهذیب دمورو پلار له خوا ښه ترغور او دقت لاندی ونه نیول شی ، البته داسی کوچنی چه مونږ ابتداء ده ته په سیکه ستر ګه کتلی وی چه دخپل ژوندون په دوره کښې به دډېر وکارونو له عهدی څخه ونشی وتلی او هېڅکله به و نشی چه جامعه یامورو پلار یې دده دکار نامو په نتیجه خوښ او خوشحاله شی .

که دد وی تربیه دمیندو په لمنه کښې ښه نه وی ، معلومه ده چه داراز کوچنیان په جامعه کښې مهمل اوغیر مفید لوئیږی ، اودمکتب تربیه هم په دوی باندی ښه تاثیر نه کوی .

ځکه چه داراز کوچنیان دخپل رشد او ځوانی په دوره کښې لټ ، ضعیف ، ویریدونکی هر دم خیال او . . . . . وی اوپه نتیجه کښې لکه یودروند پیقی دخپلی کورنی اوجامعې پرغاړه لویږی .

ځکه نود کوچنیانو موراو پلار ته دالازمه ده چه هغه راز چه د دوی مقصد او نصب العین وی او دخپل زوی آسودګی او ښه والی غواړی باید دده په باره کښې دخصوصی روزنی او پالنی څخه ځان ونه ژغوری ترڅو چه د ځوانی په دوره کښې د خپل ځوی د بدو اخلاقو له اثره په تکلیف او پریشانی اخته نشی .

د کوچنیانو روح د طبیعت په حکم هر راز تعلیم او تربیه که ښه وی که بده په ډېر ښه شان قبلوی ، اوپه هغه تربیه چه دخپلی مور په لمنه کښې ئې اخستی وی عادی کیږی اوهیڅکله ئې نه هېروی .

نو باید چه دابې آلایشه روح په ښه تربیه او ښه تعلیم پرورش ومومی ، ځکه چه صحیح تربیه تر آخره پوری د کوچنیانو سره ملګرې وی او هیڅ عوامل نشی کولای چه هغه محوه کاندی .

د پخوانیو مللو او ضاع مونږ ته دتاریخ پانی واضح راښئی ، چه دد وی کوچنیان هم د اجتماعی تربیې اود مورو پلار د روزنی څخه بې بهرې اوبې برخی نه وو .

هر ملت دخپل محیط اوجغرافیائی مقتضیاتو له رویه ئې خپل کوچنیان روزل او تربیه کول ، ځینو د جګړی اومبارزی ، ځینو دصنعت اوتجارت ، ځینو دکرهنی اوفلاحت د پاره خپل کوچنیان تربیه کول .

دمثال په ډول دپخوانیو مللو د تربیې څخه لږ څه په دې ځای کښې لیکو : پخوانیو مصریانو خپل زامن دفلاحت ، تجارت ، برګری اودمجسمی جوړولو دپاره تشویق کول .

یونانیانو په زیار او زحمت کشی او په لوږو تیرولو خپل کوچنیان تربیه کول اودوی ئې دجګړې اود مبارزی په ډګر کښې د نورو مللو په مقابل کښې آماده کول .

چینیانو د نقاشی اونورو نفیسو صنائعو دپاره خپل کوچنیان تشویقول اودهمدغی تربیې اثرو ، چه دمصریانو مجسمه سازی اوفلاحت ، دچینیانو نقاشی ، دیونانیانو مرانه اوزیار ایستل ترننه پوری ډېر شهرت لری .

لنډه داچه دانګلار اوتردید ځای نشته چه تربیه پخپل ذات کښې یو ډېر ښه شی دی چه د کوچنیانو

«نور په ۱٤ مخ»

ادبیات

دمیرمنو اشعار

(۱)

رباعی

سحر که وه دنرگس لیمه لا نده
ماویل څه دی کښلی گله ولی ژاړي ؟

څاڅکی څاڅکی ئې له سترگو څڅېده
ده ویل ژوندمی دی یوه خو له خندېده

(مېرمن نازو توخي دمرحوم حاجی میرویس خان مور)

(۲)

غزل

داشنای په فکر خوښه هسی شان شوم
چه ئی کړ مه ستا په مینه سر فرازه
چه مجازمی دایازولاړی، له زړه نه
وهر چاوته چه گورم واړه دی دی،
غیر فکر می له زړه نه را بهر شو
«حلیمې» دغمازمکر زیات له حد شو

نه پو هیږم چه ممتاز که نور جهان شوم
ثنا خوانه په څور نگه د رحمان شوم
سربلنده ترمحمود غوندی سلطان شوم
دجمال په نند اروئې شا د مان شوم
پرخلیل اوپر عدو باندی یکسان شوم
چه دی بېل له یاره نکا په گمان شوم

(حافظ مېرمن حلیمه دمرحوم خوشال خان خټک لور)

(پټه خزانه)

« پاته د ۱۳ مخ »

په وجود کښې لکه اکسیر کار کوی اود اجتماعی صرافانو په بازار کښې ئې دسرو زرو په شان معرفی کوی.

نو که مور اوپلار په دې مهمه وظیفه کښې چه دمملکت اجتماعی هیئت په هغه ټینګ اوملی شرافت په ده باندی اوچت اواستواردی، څه قصور کوی دډېر تاسف ځای دی.

صحیح تربیه کوچنیانو ته دنیك کرداری اوښو اخلاقو لارښودنی کوی، اود ځوانی په دوره کښې قوی الارا ده سړی ځنی جوړ شی، اوهر سخت کار چه ورته وسپارل شی او ددوی دمېنی، اخلاقی اوملی شرافت ته زیان اوصدمه نه رسوی په ډېرښه شان ئې له عهدی څخه وځی.

څوك

که زه نه‌وای عشق به‌تالره بلل څوك
پر بل اوربه دې دحسن کړول څوك

گلرخان گهی جفا گهی وفا کړی
نکړی تا غوندی هېڅکله جفا تل څوك

سپی رقیب چه تېغ په لاس رالره درومی
بی له تا به زما خون ورته کړې پل څوك

داخوزه یم چه دې مخ ته ځیر ځیر گورم
دا رنگ کله کړی ونمر ته سم کتل څوك

په خند اخندا دې زړه له ما نه یووړ
په یاری کښې نکړی ؛ هسی غلول څوك

تر بارخو به دی ماغاښ دمینی وکیښ
له دی زخم که واقف نشوای یو بل څوك

دښکار غوښې که خوږی نه‌وای دلبره
تر گړ نگ به یسی څله پر یو تل څوك

❀
❀ ❀

دمینو لوړنه

د ښه حسن په چراغ ږو
دپتنگ د زړه په داغ ږو

په حاجت د حاجتمنو
د ولیانو په اجاغ ږو

د عاشق په پریشانی
دمعشوق په ډېر دماغ ږو

په جلوه د یار د غاښو
په شعاع دشب چراغ ږو

چه ایمن دی له خزانه
په گلبن د هغه باغ ږو

بوی دزلفو چه ئی راوړی
د سبا پدی بلاغ ږو

عشق بېخو ده پیر محمد کړ
د ساقی په ډك ایاغ ږو

«پیر محمد کاکړ»

❀
❀ ❀

څه کا

مرده دل ئی دجمال تماشا څه کا
د مجنون تصویر ادادلیلی څه کا

چه اشنا لکه غزال د هیچا نه وی
په هغو ستر گو اثر د وفا څه کا

دسرور اسباب په کار دمهجور نه شو
د دستار غنچه مقدم د سبا څه کا

چه پارهٔ گریبان لکه سحر وی
تستر دحال دا هسې رسوا څه کا

هرگز نلری بهره له دست و پایه
دخمك عالم به رنگ دحنا څه کا

د وفا طمع ئی مکړه سکندره
ورته گوره چه دوران په دارا څه کا

«شیدا»

غزل

اعتماد مکړه هرگز په آسمان باندی
شنه کوتره په هوا کښې بازی کاندې

ددو ران سر دجوشی هسی تقاضا کا
چه په اور کښې دنه سږشی دسپاندی

کله بند په ډېر خونریز دعشق جاده شوه
در نگینو او ښو لاری دی چلاندی

په صورت دا و ښو ور غلی بېصبره
قافله د خو ږو زړ ونو جل بلاندی

چه ئې زلفو دم پدم کړه غلا دزړونو
په رخسار ئی مشاطی کړی اویزاندی

دائی واغوستی له شرمه لندې ختې
ستاد قد په دول ندی سروی تاندی

« کاظم خان شیدا »

خزان وهلی باغ

وار تېر شوی په خزان دی دسرو گلو
بلبل ځکه په ارمان دی د سرو گلو

په باران ز ما دا و ښکو هغه ښکلی
لکه باغ هسی خندان دی د سرو گلو

غږ او ز و ږ د بلبلا نو پکښی نشته
خالی پا ته گلستا ن دی د سرو گلو

شنه خالونه په مخ ږدی په لاله زار کښې
ورته زړه ځکه بریا ن دی د سرو گلو

بلبلا ن و ر څخه و شړ ل ز ا غا نو
ځکه باغ داهسی وران دی د سرو گلو

تو ری زلفی ئی سنبل مخ ئی گلونه
ناست ئی خال ورته باغبان دی د سرو گلو

مشکین خط ئی وار تېر کړیدی دحسن
که گډ کړی چاتا لان دی د سرو گلو

دابور جل له دگلر خو نعیم در ومی
که بلبل باغ له روان دی دسرو گلو

غزل

ایښی خالونه سر و لبانو د دلدار دی همه
داچه داغونه په خاطر دلاله زار دی همه

رنگ په سرو وینو باندی ځانگی لکه سره گلونه
پېلی زړ و نه تا د زلفو پهرتار دی همه

لکه وچ سوی لرگی تاندشی سره گلو نه وکا
هسی رنگ زړونه داشنادغم په دار دی همه

په ابداری په لطافت کښې سرو لبانو دیار
بی آ به کړی د چمن گل ا نار دی همه

لکه خزان بېرنگه توی کادسرو گلو پاڼی
په بېلتانه داهسی زړ و نه تار په تار دی همه

باد سبا ور وړ ی بوی دی د ا شناد زلفو
خو شبو په ځکه مشک دچین اردتاتار دی همه

لکه بلبلی عا شقا ن د یا ر د مخ د گلو
هر صبحدم له ډېره درده په چغار دی همه

نعیم نه څه آرام کوی په دی خر اب منزل کښی
چه باروبست د کوچ تړی یاران تیا ر دی همه

(میا نعیم متی زی)

د بلبل ژړا

چه د گل پاڼی خزان توی کړی په باغ — د بلبل ژړا می کښېښو په زړه داغ
په خو زه ژبه ئی ویل را ځی چه ځو — دا ځای نه دی دا ستوگی او فراغ
دا زل ښکلی ز مو نږ له عقل لوړ — بلوی خو شی دلمر مخ ته څراغ
دنیا پا ته د ه ا خر کړ و به تر څو — پر مرداره د کارغه په دود کاغ کاغ
تله دهر خوار او بډای دی پخپل وار — نه ډنگر دلته پا تېږ ی او نه چاغ

ماویل زه مخلص لمری در سره ځم
په دی وران کور کښې می نشته نور دماغ

(مرحوم مخلص)

لاتر کله

ښاغلی محمد رسول خان «پښتون»

مست بیخو د ه بی پر وایم لاتر کله — خال و خط په تمنا یم لا تر کله
د آسمانه د و فا طمع خطا د ه — امید و ار ئې د و فایم لا تر کله
گا هی ژ اړ م گاهی خاندم نه پهېږم — چه ژ ړا یا په خند ا یم لا تر کله
د عمل پر لو ری نشم تلا ی تنبل یم — د طا لع فا لو نه و ایم لا تر کله
د حبا ب په څیر به بحر کښې شنا کړم — خا لی سر ډك د هوا یم لا تر کله
چه په هېڅ تو گه لایق د عمل نشوم — زه عا شق دتش وینا یم لا تر کله
هر ی خوانه می کا ته ځان ته می نشی — همیشه د بله ستا یم لا تر کله
چه دلمر په شغلو ویښ نشوم دخو به — نو بیده هغسی پا یم لا تر کله
چه د عشق پړی می وشلاوه دغاړ ی — نو به و لی تل ر سوا یم لا تر کله
بد بختی عجب انسان راڅخه جوړ کی — چه په ډېرو کښې تنهایم لا تر کله

څلوریزی

را شه حال د ز ما نی پوښته له ما — «مخلص» او یه تجر به لرم په دا
که هنداره دانصاف در کړم په لاس — په کښې وینی به سړ ی مخ د بلا

❀ ❀ ❀

که نقصان د دنیا بو لی پر ځان تریخ — دامنه چه بل ته هم وی تاوان تریخ
نری ستن کړه په ځان چخ که نشوی خوږ — پر ما مگڼه د تو رو باران تریخ

«مرحوم مخلص»

دیتیم اختر

نه هوا بل رنګ موندلی — نه آسمان دی را لوېدلی
نه تغییر د حیوان ښکاری — نه بشر په مخه تللی
ته ورځ شپه اونه شپه ورځ شوه — نه څه نوی ژوند راغلی
هغه مځکه هغه لمر دی
خلق وایې چه اختر دی

نه حال بل شو د خوارانو — نه تن پټ د بې وزلانو
او ښکی چا نکړی ورپاکی — د کوندیانو یتیمانو
وږی تږی ژوندکوینه — تووی او ښکی له چشمانو
بل ئې څه په حالی خبر دی ؟
خود به وایې چه اختر دی

یو هلك ورکړ پېغور ډېر — یو یتیم ته چه وتور ډېر :
« گوره څنګه سور او سپین یم — بابا جان می دی غمخور ډېر
گلالی کالی می وینې ؟ — دا لا څه لرم پر کور ډېر
دامی کوټ دامی میلر دی
وه وه څه ښکلی اختر دی

ځانته گوره څنګه توریې — وچ لرگی یې ، سوی سکوریې
لڅ لغړ کمیس دی نشته — د چازوی یې د چاورو ریې
د رگو وینې دی وچې — ته واښخ ژوندی په گوریې
لڅی پښې سر تور دی سر دی
پر تاهم چیری اختر دی ؟»

یتیم وویل « مغروره ! — لږ څه کوزشه له غروره
زما له حاله دی خدای ساته — مور دی نشی په تابوره
زه په غم کښې تورکو دی یم — ته ئی ډك له دی سروره
ستا د پاره دا منظر دی
څه یم زه څه مې اختر دی ؟

زه به ژاړم ته خندا کړه — زه به کاهېږم ته نڅا کړه
اختر ستا دی زه یتیم یم — ځه ، خپل لوبی مشغولا کړه
زه به خدای ته کړمه ناری — ته نازونه پر بابا کړه
زماله لوږی پوخ ځگر دی
خو پر تا باندی اختر دی!»

دپتن ترانه

دښاغلی «طالب» مخمس
دښاغلی «بینوا» پر غزل

زه پتن یم و سو ځل ته یم تیار — لکه شمع و یلی کېږم وار په وار
بلبل نه یم نه مې شوق دی د گلزار — ما د خدای سیځی د مینی په انگار
په بل څه مې نه غرض شته نه څه کار

چه مې زړه دعشق دشمع پروانه شوه — زما نه ما ته ددر د و میخانه شوه
لوی آسمان راته دو ینو پیمانه شوه — ماته خپل دزړه دا غونه خزانه شوه
که بډای وته درم وی یاد ینار

چه جهان ماته بې قدره دی تر لو تی — څه له ځغلم دبیبان پر کا نو بو تی
نه خلاصیږی مې په ژوند کښې دزړه غوتی — په دی هیله هره شپه کړم ستر گی پوتی
چه به گوندی نشم بیر ته بیدار

سیل دغم راباندی راشی چه را پاڅم — سره لمبه راته دنیا شی چه را پاڅم
جهان ماته کر بلا شی چه را پاڅم — خپل وجود راته بلا شی چه را پاڅم
روغ رمټ ژوندی له خو به هر سهار

دمجنون په شان مې کنج د صحرا نه موند — په دنیا کښې می دولت ددنیا نه موند
په هیچا کښې می اثر دو فا نه موند — په ژوندون کښې می فرصت دژړا نه موند
دزړه درد می خندوی لکه پر هار

زما چه داسی و یر ژړاوته هوا ده — پر درد منو مسکینانو مې ژړا ده
بیدر دی او عاشق ! دا څه تقاضا ده ؟ — دبیدرد که ئې وجود که ئې خند اده
شی دټول تر سوز وسازو دمینې جار

که دچا زړه وی په عشق کښې کښېو تلی — البته صبر و آ ر ا م د ی ځنی تللی
که څوك نه غواړی خپل زړه په غم چاودلی — آه ما تر رنگ ددې رباب دی اور یدلی
گوتی مه وهی دخوږ وزړو په تار

دا چه زړه زما دعشق په سوز کښې ساز کړی — په دې راز دخپل همراز وسره راز کړی
نازولی اشنای نازدی ور ته نیا ز کړ ی — زخمی زړه لکه مات لوښی مات آواز کړی
ورو ورولاس ورو ړه چه وانخلی آزار

که هر څوشو راڅه پاته کور اوکلی — خو ښ یم د پر چه یم دعشق په غم لړلی
دازړه نه دی چه ئې ټپ دی غوړیدلی — یکښې گل د محبت د ی ټو کېدلی
د آشنا دخوږی مینی دی یادگار

څودلبر دټول جهان زماد لبر وی — خود به زخم لکه گل زما پر ځگر وی
درقیب ستر گی اوغوږ دکور وکر وی — تل تر تله د دا گل تازه اوتر وی
که خزان ورباندی راشی که بهار

بینوا ورو ره ! تر څو چه زما وس دی — زخمی زړه می دزخمی زړو په هوس دی
«طالب» نه بس کوی عشق څو ئې نفس دی — پس له مر گه لا هم دارا لره بس دی
مه ږدی زما پر جنازه د گلو هار



دا دبلني مجلس په واشنګټن کښې دامریکا دپوست دارا کینوله خوا دښاغلی ع، ج عبدالحسین خان په افتخار منعقد شویدی چه دی دافغانستان له خوا هلته وزیر مختار دی .

یو تخیل:

دیوه ناروغ پردیس

وروستنۍ وینا

ښاعلي محمد خالد «روښان»

آخر به ستا په ټیلتانه کښې د دنیا څخه ولاړ شم. ولاړ به شم، بی له دېنه چه می سترګې د وروستنۍ وار دپاره ستا پرپا که هوا او خاورې ولګېږی؛ بی له دېنه چه یوه وروستۍ لیدنه ستا د زامنو سره وکړم، بی له دېنه چه ارمانونه او هیلی می تر سره شی.

ای خوږی مېنی! څه می غوښته چه وئی کړم او څه را باندی وشوه چه ستا د خدمت څخه ئی ترا بده پوری محروم او نامیند کړم؟!!

هره خوا ګل او ګلزار، ونی شنی او غرونه رغونه ټول زرغونه دی هر چا ته ګورم یو عالم خوښی ئی په زړه کښې څپې وهی، هره خوله د نوی غوټۍ په څیر چه یو واری خلاصیږی بیا تر ډېره وخته پوری هماغه خندانه بشره او ورین تندی نه الیشیږی، مرغان واړه د خوښی ترانې وائی، ځکه دی موسم هر شی ته او هر چا ته نوی روح بخښلی دی، منګر نه ماته دا وخت، په دی ځای کښې ګرد عالم ته کټ مټ لکه پسرلی غوندی دی او یوازی ماته منی دی.

هو کی. دیر دو په ملك کښې ناروغ، بیکس او بې وزلی پروت یم، د عمر پاڼه می د څو عمر را په دېخوا ژیړه او مخ په وچیدو ده نه می کم اشناشته چه یو ساعت د سوی زړه د غمونو بساط ورته وغوړوم او د غه ډك زړه لکوټی تش کړم.

اې موری! ای رښتنۍ موری! ولی دی دونه ژر دیاده وویستلم؟ آه! هیڅوك نه لرم. له خوږو یارانو نه په پړاوو پړاوو لېری یم.

دوطن باده! ته هم ما سره رخه (کینه) لرې؟ ولی دیار اشنای بوې نه راته راوړی؟ ولی د ګران ..... اوف زړه می سوری سو..... ای مرګیه! یو ګړی خو راته وګوره ګوندی وی چه..... آه! خیر ....

خوږی مینی! د مرګ څخه باك او بېره نه لرم، یوازی په دی ژاړم چه هیڅ چوپړ می درته ونه شو کړای، خدایه! هغه شنه چمنونه، هغه تورغرونه، هغه صافی روانی ولی، هغه رڼی چینی او هغه د خوښۍ او د طربه ډکی شپی ورځی. آه! هر شی چه ئی یادوم، بی سده کیږم.

هغه شپی می په یاد راځی چه د شنوونو لاندی او د صافو او رڼو ولو خواته به په خیال روان او په هغسی خوږو اندېښنو کښې چه ټولی ئې د ښادۍ څخه ډکی وی ډوب وم او د خورلسمی سپوږمۍ رڼو وړانګو به د اوبو په سر راته لوبی کولی خپل د راتلونکی ژوند خیال به می کاوه. او د ګران هوا د راتلونکی وخت ته به ځیروم دې خواته به می پاملرنه وه، چه په څه ډول به ئې چوپړ وکړم. په هغو وختو کښې می زړه د خوشحالۍ د رازراز احساساتو او جذباتو ډك ؤ منګرنن هغه زړه د غم ښکار دی او ه څه وم او څه شوم؟ !!!

هغه وختونه می په زړه ګرځی چه د یارانو په ټولۍ کښې به مو د ماښام څخه تر کېیځ پوری، خوږی او د مینی ډکی قصې سره ویلی او س په یوه بله دنیا کښې یم غیر د هغې مقدسی دنیا (هو کی زما مېنه ماته دنیاده) چه سپېڅلی پښتو نخوا نومیږی هیڅوك نه پېژنم، د هیڅ شی سره مینه او علاقه نه لرم. نه می د شپی خوب سته، او نه د روځی هوسائی.

هر سبا چه له د رملتونه څخه د هوا خوری د پاره د باندی ووځم. په خدای سره لوړم که به دا هوا خوری د یوې خاشې قدرته هم راته ګټه ورسوی. ای پاکی او له مالېری مېنې! ماته وائی چه: تا عمر په زیار او نا آرامۍ کښې تیر کړی دی هو کی! رښتیا وائې. که زه خپل ژوندون ستا د لوړوالی د پاره صرف نه کړم، نو ما به څه کړی وی؟! ستا د مینی به وړیم؟! د دې لیاقت به ولرم چه ځان پښتون وبولم؟! نه، نه، هیڅکله.

په تا کښې لمړی پلاسترګی خلاصی کړم، په تا کښې لوی شم، په تا کښې وروزل شم، په تا کښې ستا او به

او خواره ترستونې تیر کړم او بیانوبی له دېنه چه ستا ددغه لویه حق څخه یوه ډېره لږ برخه ادا کړم ، تاستا حال ته پریږدم ، اوستا په ناشکری سره ژوندون وکړم ؟ ! نه ، نه . خوږی مېنی پښتون هیڅکله دبی ننګی ډوډی نه خوری . که ما ژوند په ربړ او مشقت سره تیر کړی وی دبل چا دپاره به می نه وی تیر کړی - خپلی رښتنی مور ته به می زیار ایستلی وی . او که چېری بېر ته ژوندی او یه روغ صورت ورته ورسېدم دا ژوندانه یا ته روغی به هم دګرانی مېنی په خدمت کښې تېری کړم .

اوخ ! زړه می ته واچه سوری سوری دی او دهر سوری څخه ئی وینی لکه رود بهېږی زیاتی نود کښېناستو متره (طاقت) نه لرم .

ای پاکی خاوری ! څه شی دی یاد کړم چه زړه ګی می ستاله غمه دننه په کوګل کښې ونه چوی .

هغه وختونه می په زړه کړځی چه دهمزولو سره دلو بو او هوا خوریو دپاره کله کله ما ز دیګر مهال دښاره څخه دباندی دشنو بنو وخواته وتلم او دنری شمال دلګېدو له امله به مو ارواح په کالبوتو کښې لکه ګل غوړېده .

دهغو وختونو یاد ، ما دسده باسی ؛ چه په باغو کښې به ستا ، ای خوږی مېنې ! ستا دوړو وړو او رازو رازو مرغانو (پرندګانو) خوږو نغمو ، موږ ځانو ته بللو او دحال په ژبی به ئی ستا دسخاوت شکرونه زمونږ به مخ کښې ادا کول .

هغه وختونه ؛ چه په ګډه سره به موستا دطبیعی شرشرو څخه دموسیقی راز راز پردې ار وېدلې . ای خپله هواد ! هغه خواشینی چه ستا دبیلتانه دلاسه پرما په دی وطن کښې راغلی دی او تېرېږی ، نه لګی شم بیانولای . چور د کاره وتی یم فکر می په ځای نه دی . . . سر می ګرځی . . . زړه می سولېږی ددی وطن هوامی بالکل ښه نه ایسی . نور نوله تالیری ؛ په دې دشور ماشوره ډک ښار کښې ژوندون نه غواړم . . .

خیالی او موهومی پردې می دتیر ژوندون مخی ته راځی ، او یو دبل پسې ، دسینما دعکس په څېر می له ستر ګو پناه کېږی . . .

ای وطندارانو ! دګرانې مېنې د جنت په شانی مځکه دی خدای در روزی کړی او مبارک موشه مېنه هومره یو عظیم نعمت دی ، چه کنډواله ئی هم په حقیقت کښې دیوی عظیم الشانی ماڼی په څېر ده .

زه تلونکی یم . زیاته ژوند نه شم کولای څه مهال وروسته به می دپر دیسانو په شان ، مړی دخو تنو حما لانو په شا ، او چېرته به په دی تورو خاورو کښې دبی رحمو او بی عواطفو خلګو په لاس ښخ کړه شی .

ای وطنه ! ای ګرانه هواده ! ای خوږی او پاکی مېنی ! دپر ناروغه او دتوانه لو بدلی یم . یو ستا دبیلتانه له کبله او بل هم دنار وغی خو زمی دزړګی کور وېجاړ او دغمونو ډک زړه می دهغه کب په څېر چه داو بو نه وچی ته ارتاوشوی وی په تاپسی نولېږی .

آه خدایه ! هیڅوک نسته ! زه یوالحی یم ؟ ! خدایه ! . . . . . دیر تږی یم . . . یو غړپ اوبه که څوک را کړی . . . .

او ! او به څه کوم ؟ ! خو ږ ژوندون می دمېنی دخدمت کولو دپاره دلاسه ورکی منګر په پای کښې می هیڅ خدمت ورته ونه شو کړای دهر شی څخه ئی ما ګټې وکړی ، منګر هیڅ ګټه می ورته ونه رسوله . نه ؛ اوس نو زه دیر دو دملک دا وبو وړهم نه یم او نه غواړم چه دځنګدن او مرګ په وخت کښې دیر دی ملک په اوبو تنده ماته کړم . څونه به زه خدای څخه شکر ګذار وای ، که ئی هماغسی چه دزېږیدو په وخت کښې دوطن په پاکه فضا کښې زما سترګی خلاصی کړې ، اوس ئې هم دمرګ په وخت کښې دآخرنی وار دپاره زما سترګی د خپلی مېنی په هوا ، مځکی او خلکو رغړ ولی وای . منګر نه بیا هم سل ځلی شکر دی چه . . . . . آه . . . . . افغانستانه ! څه لوی نعمت ئی ! ! !

خو لحظی وروسته سا ورکوی او ددی فانی او له ګرومه ډکی دنیا څخه باقی دنیاته ځی .

دوی ورځې وروسته د دنیا دیوه لوی او پر نفوس ښار دکو خوڅخه دیوه پر دېس مړی ، چه دشفا خانې دو وتنو کارکو ونکو پراوږ وا خیستی و ، تېر کړه شو ، او له ښاره دباندی ئې دپر دیسانو په هدیره کښې ښخ کړ له هغو دو وتنو څخه یو پرو ، رحمیده ، یوه ګډی ئې دژیړو ګلو ددی غمجن پردېس پرقبر کښېښو وله . زیاتی نو دو اړه ځینی بېرته ولاړل .

دگلوسره

(۵)

د مړاوی اوهمیشه گل په منځ کښې

دمشهور فرانسوی لیکوال
الفونس کار په قلم :

یوه مړاوی گل همیشه گل ته وویل چه مونږ دواړه یوه راز گلان یو او د واړه پر دې ځمکه یو راز ژوندون لرو ، لیکن دپسرلی دتېرید لوسره سم زه مړاوی شم او زما پاڼی وچی شی او زماوجودبا لکل دځمکی دمخ څخه محوه شی ، او ته هم دغه راز تل په یوه حال او تازه پاته یې .

ته تل دلمر دختلو او پر پوتلو اود سهارد وږمو او پر خی څخه خوند اخلی او تل د مرغانو خوږې نغمی ار وې .

ته څه ښه ژوندون او ښکلی حیات لرې ! افسوس چه په ما باندی دفنا حکم څه رنگه ژر اثر کوی !

همیشه گل ورته په ځواب کښې وویل : - په هر شی کښې تغیر اوتطور راځی ، دایواځی زه یم چه ددې خپل جمو د له بر کته د طبیعت هر راز نشو و نما اوتحول وینم -

په ماباندی دڅیلې ساړه بادونه اوداوړی تودې بروگانې الوځی ، اومانه دڅیلې ساړه بادونه وژنی اونه مې دپسرلی وږمه ژوندی کوی ، زماتل زېړتو پل په سروی ، اوزه نه دمرگ څخه بېرېږم اونه په ژوندون باندی پوهېږم په ماباندی دتورو مچیو سیلونه تېرېږی لیکن زه د هغوی دوزرو په آواز اوښکالو نپوهېږم ، اوزمابه شاوخوا کښې بو راگان او پتنگان الوځی لیکن په ما باندی د هغوی وزرونه نه لگېږی .

په ما باندی دبادونو وږمی تېرېږی ، لیکن هغوی ما ته یو خاص التفات نه کوی ، بلکه ما په ډېر حقارت سره په مخ مخ په څېړ ووهی اولکه د قبر اوادیری گل ، را ته په بد نظر گوری ، که څه هم زه په ظاهر کښې تازه اوژوندی او خوشحال ښکا رېږم لیکن زمارنگ زېړ اوزړه مې مړاوی وی .

اې د پسرلی گله ! مخ آسمان ته واړوه اوپورته وگوره اود خدای شکرو باسه ، خدای دی ستا د پسرلی او به دارو کړی !

هر کله چه ته د ژوندون په رموز پوه شوی ، نودمرگ غوټه به هم وسپړې اوپه اسرارو به ئې پوه شی .

زما ژوندون خو په رغو او میرو کښې ورک او خاوری شو ، داوړی ژمی تودی سړی را باندی تېرېږی ددو بې لمر او د څیلې شپی راباندی لوبی کوی ؛ او په شپه کښې دقبرو نو در ژېدلو هډوکو ز گېروی اروم .

❀ ❀ ❀

ای دپسرلی گله ته به هم ژر مړ شی او ستا روح به د خوش بویه وږمې سره داسمان لوری ته ولاړ شی . په ډېره خوشحالی سره ولاړ شه اوزما سلام یوسه ، تر سلام و ر وسته زما خالق ته زما له خوا د اعرض وکړه چه په دنیا کښې دژوند انه دوام عطیه نده بلکه دا یو ربړ دی ته زمادپاره دهغه په حضور کښې د اسوال وکړه . چه هغه ماهم وغواړی ځکه چه دهغه دربار دهر راز حیات اوسعادت مرکز دی .

(دښاغلی سیفی ترجمه)

دموپاسان لیکنه:

ړوند

دښاغلي هاشمي ترجمه:

دغه خوشالتیا چه د لمر له لید لو مو نږته پیدا کیږی څه سبب لری؟ همدا چه دلمر وړانګې په مځکه خپریږی مونږ خو شالیږو، دشنه اسمانه، دشنه چمنه دسپینو سپینو بنګلوله لیدونه مو سترګی اریانی پاته کیږی اوروح موورنه خوند اخلی. زړه موغواړی چه منډ ی ووهو سندری ووایو، افکار موسپك اوروښانه کیږی؛ زیاته خوشالتیا په ځان کښې وینو او غواړو چه لمر په غیږ کښې ونیسو.

مګر هغه ړانده چه اکثره ددروازو په خولو کښی ناست وی هیڅکله دلمر له راختلونه، نه خوشالیږی؛ له رڼا او خوشالتیا نه څه خوندنشی اخستی کله چه ورځ وپای ته ورسیږی او ړوند دخپل ورور اویا کچنۍ خور په مرسته کورته راګرځی که چیری ئې هغه کچنی ورور، ورته ووایی چه نن ښه ورځ وه دی ددغه ښه والی پوره احساس نشی کولی او په مطلب ئی ښه نه پوهیږی. زه ددغسی ړوندو څخه یو ړوند پیژنم چه ډیر تریخ او سخت ژوند ئې درلود. داسړی ددهقانانو له طبقی څخه و او پلار ئې دنرماندیانو دکلې و تر هغه وخته پوری چه مور او پلار ئې ژوندی وو تر یوی اندازی پوری ئې دده ساتنه کوله او ده پرته له ړند توبه بل کم تکلیف نه درلود مګر وختی چه مور او پلار ئې مړه شوه په ډیرو مشکلاتو باندی اخته شو.

وروسته دمور او پلار له مرګ نه خورئې خپل کاله ته بوته لکه یو لټ سړی ته چه څوك په سپك نظر ګوری دغه بی وزلی ته هماغه شان په سپك نظر کتل کیده دډوډۍ خوړلو په وخت کښې به ئې کنترلی ورته کولی لټ او بی ادبه، به ئې ورته ویلی دخور میړه ئې سره له دی چه دده دپلار او مور ټول شته ئی خپل کاله ته راوړی وخوده نه به ئې دومره څه ورکول چه ساه قدر ئې ور باندی ساتلی وه!

دده دمخ رنګ بیخی آلوتی و او یوازی دوی سپینی روح وتلی سترګی یکښې ښکاره کیدی هیڅکله ئی دبدوردو ځواب چاته نه ورکاوه او تل به په فکر کښې ډوب و سړی به داخیال کاوه چه ګوندی هیڅ هغه بداوردنه اوری بی وزلی برسیره په دی دمینی او محبت نه هم خبر نه درلود ځکه چه مور ئې هم له دی کبله چه ړوندو مینه ئې ورسره نه درلوده.

هغه کسان چه په کلو کښې بیکاره ګرځی دنورو په حق کښې موذی وی او دهقانان هماغه شان چه دخپلو چرګو بی متره چوچیان وژنی دبیکاره هلکانو نه ئی هم بدرا ځی.

بی وزلی ړوند همدا چه به ئی خپل آتویی وخوړنو سمدستی به له ځایه پورته کیده که اوړی به و کوڅو ته به ووت او که ژمی به و د بخاری ترڅنګ به کښیناست او دشپی پوری به له هغه ځایه نه پورته کیده او حتی چه ځان به ئې هم نه ښوراوه مګر کله کله به ئې دسترګو زیږمی چه دده له باطنی غمو نو به ئې سړی پوهاوه یو په بله به سره راټیټی شوی او دهغه دسترګو سپین ګاټی به ئی پټ کړه او څوك هم نه پوهید چه دغه بی وزلی له ژوندون نه څه خبر لری او که یه؟ څه خیال او فکر لری او که ئې نه لری څو کاله همدغه شان تیر شو مګر ورووروله ده څخه خپل خپلوان له دی د آمله چه څه کار او کسب ئې له لاسه پوره نه وتیر اشوه او زور به ئی ور کاوه وختی چه دده داټولې نادودی زغملی وروسته له دې به ئې توقی مسخری ور باندی کولی دهغه دزورولو او خپلو ساعت تیرولو دپاره به ئې هره ورځ نوی نقشه ترتیبوله او ددې دپاره چه مفته ډوډی دغه بی وزلی ته ورنه کړی نو مخصوص به ئی دډوډی خوړو په سر زوراوه او توقی مسخری به ئی ور باندی کولی او په هغه وخت کښې به ئې خپل نور ګونډیان دده د زورولو دپاره را بلل.

کله به ئی دهغه دخوړولو ښی ته پیشی او کله به ئې سپی وړاندی کړ چه بی خبره دهغه سره په خوړو کښې گډشی وختی چه ړوند به پوه شو نو خپله کاشوغه به ئې دهغو دډارولو دپاره وربورته کړه. په دغه وخت کښې به هغو گونډیانو چه دسیل دپاره به ددیواله ترخوا منتظره ولاړوو په خندا اوچك چکو پیل کاوه؛ مگر بی وزلی ړوند پرته له دی چه دچا سره کمه خبره وکړی بیا به ئې په ښی لاس په خوړو شروع وکړه او په کیڼ لاس به ئې دخوړو لوښی له پشکو اوسپو څخه ساته.

کله به ئې پندانه او کله به ئی دپسو پچی او حتی کله به ئې به نا پوهی کاغذ وړ باندې خوړ او هیڅ به ئی نه ویلی په پای کښې دکاله خلق له دغو ټو قومسخرو څخه هم ستړی شوه او دخورمیړه ئی دډوډی ورکولو نه په عذاب راغلی و نو دهغه په وهلو او ټکولو ئی شروع وکړه او نورو به له دی امله چه ړانده خپل ځان نشو خلاصولی او چیری تښتیدی نشو او دځان دفاع ئې نشوه کولی ورباندی خندلی او دهغه په بدمرغۍ به خوشاله وو!

روستی نقشه داوه چه هر هلك او هر سړی به ئی چه له څنگه تیریدل یوه یوه سخته څپیړه به ئی په مخ ورکوله او دغه آسمان رټلی به نه پوهیده چه ددوی دلاسه چاته پنا یوسی لنډه دا چه څو موده وروسته ئی مجبور کړ چه باید گدائی وکړی د سړکو په سر به ئی کښیناوه او همدا چه دپښی ډب به ئی واورید خپله خولی به ئی ورولاندی کړه او داسی به ئی ویل: «با دارا نور حم وکړی.» مگر رحم د دهقانانو په زړو کښې چیری شته!

هفتی هفتی ئی دسړکو په سر تیری شوی چاورته یوه شائی هم نه ورکوله نو له دغه کبله چه څه ئی کورته نه ر اوړه په خپلوانو باندی بده اغېزه وکړه او دی ئې لا پسی زوراوه د خورمیړه ئی دژمی په یوه سخته ورځ کښې چه مځکه په واورو پټه وه دی ئی یو لیری ځای ته دگدائی دپاره بوته او هغه بی وزلی ئې ټوله ورځ هلته یوازی پرېښود او دشپی ئی دکاله خلقو ته وویلی چه هغه می بیا نه موند څه اهمیت لری خپله به راشی. په دی باور وکړی چه دآتو بی دخوړو دپاره به هم سبا ته راپیداشی، مگر سبا ته هم دهغه پته ښکاره نشوه.

ځکه چه هغه بی وزلی هلته ډېر انتظار وویست او سړو ډېر بی مجاله کړ مجبور شو چه له هغه ځایه پاڅېږی او بی ارادی روان شی هر کله چه لیاره ئی نه لیده په کند و کښې به لویده او بیا به بیرته پورته کیده ورو ورو ئی پښې دسړو له لاسه بې متره شوی دواورو په میانځ کښې کښېناست، مگر دا کښېناسته داسی کښېناسته نه وچه بیا پورته شی، لږ ځنډ پس واورو لاندی پټ شو او څه نخښه ئې هم د باندی پاته نشوه خپلوان ئې په پلټلو سر شوه مگر هیڅ پته ئې بیا نه مونده او خلقو ته ئې داسی ښکاروله چه گوندی دهغه له ورکیدونه خپه دی او ژړا ئې هم ور باندی کوله.

سږ کال ژمی ډېر سخت و. واوری ډېره موده وروسته او به شوی وختی چه دکلا خلق د یکشنبه په یوه ورځ د کلیسا خواته تلل په بید یا کښې ئې ډېر کارغان ولیدل چه په یو ځای راټول شوی وو چه کله به وا لوته او کله به بیرته په هماغه ځای د باران په شان را توی شول.

یوه هفته وروسته بیا کارغان هلته ولیده شوه چه شمېر ئې زیات شوی وو او د آلوتو په وخت کښې به ئې اسمان توراوه او داسی ښکاریده چه ددنیا ټول کارغان هلته راغونډ شوی وه! په پای کښې یو کس وړاندی ولاړ چه دکارغانو د راغونډیدو په سبب پوه شی هلته ئې دبی وزلی ړانده نیمه تنه ولیده چه هغه هم کارغانو غلبیل غلبیل کړی وه او سترگی ئې ایستلی وی!.... دهغی ورځې راایسی هر وختی چه زما سترگی دلمر سره مخامخ کېږی دهغه بې وزلی ړانده له زحمته ډك ژوند را په یاد ېږی او خیال کوم چه دهغه مرگ به دهغو کسانو دپاره چه دغه ړوند ئې پېژانده یوه غمجنه خاطره وی.



شعري سرقې

ښاغلی صدیق الله «رشتین»

له ډېره وخته مې اراده وه چه په دې موضوع څه ولیکم خو تر اوسه پورې د یوقوی باعث د نشتوالی په وجه دا اراده هم داسې پاته وه . څه موده دمخه ترین نو ماندی یو لیکوال د پښتو په شعر څه تنقید لیکلی و او په هغه کښې ئې شعری سرقی ته هم قلم او زد کړی و ، کوم وخت چه ما دغه بحث وکوت نو زما د پورته ارادې یو زبردست محرك اوباعث پیدا شو اوزه ئې دې ته اړ کړم چه باید زر تر زره په دغه موضوع څه ولیکم . ولی چه دا ماته یو سخت ادبی ضرورت ښکاره شو او چې پاته کېدل مې یوه ګناه وبلله . بله دا چه په دی موضوع کښې تر اوسه چاڅه نه دی لیکلی او هم دغسې پټه پاته ده لدې کبله غواړم چه خپله اراده عملی کړم او په دې موضوع څه لږه ډېره رڼا واچوم په دې نیت چه دشعری سرقو حدا وحدود ، ښه اوبد اقسام اونور تریوې اندازې ښکاره اوخرګند شی او څه نه څه ددې لارې دتلونکو د پاره دار نا مفیده واقع شی څرنګه چه دا اول ځل دی چه په دې موضوع کښې څه لیکل کیږی نو ځکه دښاغلو لوستونکو څخه د کمی زیاتی دعفو غوښتلو په ډاډ دلیکلو جرئت کوم .

دسرقو فن: معانی، بیان ،بدیع دادری واړه فنونه دادبی او لسانی علومو مشهور فنونه ، او د بلاغت او فصاحت علمونه دی ، ددې درې واړو په آخر کښې یو بل وړو کی غوندې بحث هم شته چه هغه دشعری سرقو بحث دی او لحینی خلك دا بحث دعروض او قافیې په آخر کښې راوړی و لی چه په شعر یو ری زیات ارتباط لرې په هر صورت دشعری سرقو بحث هم یو لنډ غوندی ضروری فن ، او په تیره دشعر سره ډېر لازم دی او د بلاغت او فصاحت او شعری فنونو ضمیمه بلل کیږی .

روهبنی خبری:

الف : هغه صفات استعاری تشبیه ګانې چه ټول خلك ئې په پېژندلو کښې شریك وی . او په ټولو ذهنونو اوعقلونو کښې یوشان تقرر لری ؛ د هغې اخستنی ته

غلا او سرقه نشی ویلی . مثلاً که چیری دزړه و رتیا سخا ، ښا یست ، بی محتوب یادداسی ورو عاموصفا تو په بیان کښې ددوو تنو پېښه او یو والی را شی داسرقه او اخذ به گڼل کیږی ، ځکه چه داصفات په ټولو عقولو او دماغونو کښې یوشان موجود دی او ټول خلك یکښی شریك بللی شی.

دارنگ دزړه ور تشبیه دزمری سره ، د سخی تشبیه د دریاب سره ، دزلفو تشبیه د ښا ما رانو سره ، دغاښونو تشبیه دزلی سره ، دسترگو تشبیه د گولی او ډکو تما نچو یاد بادام او نرگس سره یاداسې نوری ټولی عمومی تشبیه گانی دی او ددوو تنو شریکوالی او یوالی یکښې غلا او سرقه نشی بللی . ولی چه دا دهرچا په ذهن کښې یو رنگ پرتی دی ، او هر څوك یکښی شریك گڼل کیږی .

ب: هغه صفات . تشبیهات ، استعارات او مطالب چه ټول خلق ئې په پیژندلو کښې یوشان نه وی نو په داسی صورت کښې کیدی شی چه د تقدم او زیاتوالی دعوه وکړی شی ، او یوه ته ښه او بهتر ، او بل ته ناقص او نیمگړی وویلی شی ، البته په دی قسم کښې دسرقی او اخستنی اطلاق ممکن دی چه وشی ، نو دادی اوس مونږ غواړو چه دشعری سرقو اقسام بیان کړو:

د سرقو اقسام:

شعری سرقی دوه ډوله دی - ۱ - ظاهری ۲- غیر ظاهری داهر یو قسم بیا نور اقسام لری د ظاهری سرقی قسمونه لاندی بیا نیږی :

۱ - الف : اول قسم ښکاره غلاداده چه یو شاعر دبل چاشعر بې دڅه معنوي او لفظی تغیر څخه و اخلی او په خپل نامه ئی کړی دی سرقی ته عرب (نسخ او انتحال) وائی داقسم غلاډیره بده او عیبجنه ده ځکه چه دادوچی کلکی غلانه بغیر بله معنی نه لری لکه دمحمد امان دادوه بیتونه :

حسن خط دبیزاری ومخ ته ور کړ
چه ښکاره شو په عذارو د نگار خط
ستادشونډو مهره څوك واخلی دلبره
چه تری پریووت چار پیره لکه تورمار خط

چه هو بهو بی له څه تغیره دعبد القادر خټك (۱) په دیوان کښې راغلی دي او دمحمد امان و کامل دخط غزل هم دعبدالقادر په دیوانکښې موجود دی ، چه معنی په ټولو بیتونو کښې اخستل شوی ده او الفاظ په ځینو بیتونو کښې بدل شوی دی .

ب: دظاهری سرقی اول قسم ته نزدې دا هم ده چه معنی ټوله واخلی او الفاظ یا ټول او یا ځینی مترادف را وړی .

عربی مثال لکه دامرالقیس دا شعر :

وقوفاً بها صحبی علی مطیهم - یقولون لا تهلك اسی وتجمل

چه « طرفة » په خپله قصیده کښې اخستی دی او د(تجمل) پر ځای ئې (تجلد) ورا چولی دی په پښتو کښې لکه دعبد القادر دابیت : (۲)

لکه زه په یار مفتون یم بل به نه وی مفتون هسی
لکه زه پسی محزون یم بل به نه وی محزون هسی

چه خوشحال له ده نه مخکښې داسی ویلی دی:

لکه زه په یار مین یم بل به نه وی مین هسی
لکه زه پسی غمجن یم بل به نه وی غمجن هسی

یادحمید دا مصرع(واسمان ته به دشعر زینی کښېږدی) چه شمس الدین پکښې داسمان په ځای دفلك کلمه ایښی ده (وفلك ته به دشعرزینې کښېږدی)

یادعبدالقادر دابیت :

چه پرې غم غلطوم درې می محرم دی
یوقلم دویم کتاب دریم اشعار خپل

چه قلندر داسی اخستی دی :

چه پرې غم غلطا وه شی هغه درې دی
یو قلم دوهم بیاض ، دریم اشعار

۲ - دوهم قسم ښکاره سرقه داده چه معنی دټولو الفاظو یا ځینو الفاظو سره واخلی او دنظم ترتیب بدل کاندې ، دې قسم ته عرب اغاره (اومسخ)

---

(۱) عبدالقادر له محمد امانه ډیر پخوا تیر شوی دی .
(۲) دعبدالقادر دابیت په اصل کښې دمشاعرې دپاره دخوشحال دبیت اقتفا ده سرقه نه ده ، مگر ددوهمی سرقې مثال دغسی شعر کیدی شی .

وائي . په دې قسم کښې که چیری دوهم شعر له اوله بلیغ وی نو دا اخستنه ښه او مقبوله ده ، او که دواړه په رتبه کښې برابر وی نو اول ترجیح لری او که چیری دوهم په رتبه کښې له اول نه لاندی وی نو دا خستنه بده او مذمومه ده .

د دې درې واړو مثالونه لاندی بیانیږی :

الف: هغه چه د نظم ترتیب بدل شوی وی او دوهم شعر له اول نه بلیغ او ښه وی لکه دا خوندگدا دا بیت:

له جهانه مهر ومینه محبت لاړ
له هر چانه اخلاص صدق محبت لاړ

چه عظیم داسی راوړی دی :

اوس زمونږ د زمانی نه برکت لاړ
ده رچا د زړه نه مهرو محبت لاړ

یو خو دوهم بیت مختصر او بې تکراره دې او بل مطلب ښه اداشوی دی ، دا جمله چه «اوس زمونږ د زمانی نه برکت لاړ» په خپله د ټولو شیانو د تلو د پاره ښه دلیل او ښه تمهید کیدی شی . په اول بیت کښې سره د محبت د کلمی د تکراره مطلب هغو مره عاموالی نه لری.

یا د عبدالقادر دا بیت :

د دنیا په د ښمنی کښې عیسی لاړ شه تر اسمانه
په دوستی کښې یی لاځی تحت الثری ته قارون هسی

چه معز الله داسی ویلی دی :

ثمره د نیک خویی ده چه عیسی په اسمان وخوت .
لا په ځی له بده خویه مخ په ښکته قارون هسی

دویم بیت د یوې اساسی عامی نکتی لرونکی دی چه هغه په اول بیت کښې نشته یعنی هغه د دنیا د ښمنی او دوستی د قارون د کښته تلو او د عیسی (ع) د آسمان د ختو سبب کښی او دې ئی نیک خویی او بد خویی علت بولی . دا تعبیر څه قدر بلیغ او اساسی معلومیږی په لفظی ادا کښی هم دوهم بیت زیات دی ولی چه د تللو په نسبت ختل د اسمان سره زیات تناسب لري . دا رنگ مخ په کښته تلل د تحت الثری له تلو څخه د مقصد په افاده کښې قوی او بلیغ ښکاری .

ب :هغه چه دواړه بیته په رتبه کښې مساوی او برابر وی لکه د عبدالقادر دا بیت :

سرې سرې او ښی دې په مخ عبدالقادره
وخپل یار ته دیاقو تو مهمانی ده

چه حمید داسی ویلی دی :

په لمنو د رگوهر د او ښو بویه
تیاری د یار د خیال د مهمانی

د اول بیت حسن د سرو او ښو او یاقوتو تناسب زیات کړی دی ، او په دوهم بیت کښې د یار د خیال د مېلمستیا د پاره په لمنو د او ښکو مرغلرې تیارول ، یو ښه تخیل او ه اداده . په دې لحاظ ویلی شو چه دواړه ښه بیتونه او په رتبه کښې یو شان معلومیږی .

ج :هغه چه اول بیت له دوهمه بهتر او بلیغ وی لکه د حمید دا بیت :

دا په وچولی تو رخال زما د یار دی
که اذان لره ختلی دی بلال

چه رضوانی داسی اخستی دی :

ستا په سپینی تندی ای جانه داشین خال دی
که اذان ته د سحر ولاړ بلال دی

اول بیت ډېر خوندور او بلیغ دی. یو خو سره له اختصاره د پوره معنی افاده پکښې شوې ده ، او بل د تندی خال ته د ختلو نسبت دو درېدونه زیات موزون او پر لطفه دی ، بله دا چه په اول بیت کښې د تور خال او د بلال تشبیه کامله او پوره ده او په دوهم بیت کښې دا یو مزیت هم نشته. یا د حمید دا بیت :

په هر ځای کښې ناست ولاړ ځانگم له غمه
مینی مخ را ته د ځمکی گهواره کړ

چه حنان داسی راوړی دی :

عشق دې بیارا ته ځانگو کړه غر او سم
که ولاړ که ناست که پروت زانگم له غم

اول بیت سره له اختصار د پوره معنی افاده کوی د غر او سم په ځای هلته یو اځی د مځکی کلمې مطلب ښه ادا کړې دی. بل دا چه په دوهم بیت کښې د پروت والی په حالت کښې زانگل بی تناسبه معلومیږی « نور په ۲۹ مخ کښې »

دپشتو ادب اقتباس

(۲)

بناغلی محمد گل خان « نوری »

داحمدشاه بابا سوانح اولوړه توره او کمال خو وهر چاته معلوم دی ، خاجت دده وسوانح اوصفت ته نشته ، که خوك ښه ترا لحان په خبر وی داحمدشاه بابا د دیوان مقدمه دی واولی چه دامقدمه اودیوان یو لحای په کابل کښې طبع شوی دی . (۱) قوس ۱۳۱۹

په تیره کنه کښې خو به موپیادوی چه مونږ لیکلی و چه دپاخه اوطبیعی شاعر شعر دخپلی طبیعی غریزې اوطبیعی عشق اومینی څخه تر شونډانو راوزی ، که عشق اومینه اوطبیعی دشعر غریزه شاعر و نه لری ، شعر به ئې ساختگی او سو ړ معلومیږی ، داسی شاعر باید شعرونه وایی ، اوکه ئی ووایی هیڅ نمك به نه لری .

اعلیحضرت احمدشاه بابا په دی باره کښې هم دپورته عقیدې طرفدار دی لحکه دی هم پر بې عشقه شعر تنقید کوی چه باید بی عشقه اوبې مینې اوبیله د شعر دغریزی اوطبیعی حرارته شعر خوك ونه وایی ، وداسی شاعرته ئی کلك پیغور ور کړی دی لکه چه وایی :

بی له عشقه شعر وایې !
له ویلو شرم نه که !

مراد له عشقه اومینی څخه یوازی دخط او د خال مینه اوعشق نه دی بلکه مراد له عشقه څخه هغه عشق اومینه ده چه دشاعر دزړه په کومی کښې پرته وی ، دهرشی چه وی .

هر کله چه دشاعر دهغه شی دمینی حرارت دزړه په کومی او کوګل کښې په جوش راغی نوطبیعی شاعر د هغه شی په یاد اوصفت اودهغه په شاو خوا کښې شعر وایی .

دناظر په نظر اوعقل کښې داوی چه ده باید داسی شعر ویلای وای لکه . . . منګر هغه دده دعقل اونظریی څخه پرخلاف شعر وایی .

وګوری ! ـ احمد شاه بابا چه د پښتنو تور یا لیو انګرو سره شاوخوا دیر فتوحات وکړل . اویو کامیاب شهنشاه وو دزړه په کومی کښې ئې دخه شی مینه وه؟ اودی په دې وخت کښې وتوریالیو پښتنو ته څنګه اود خه شی درس په شعر کښې ورکوی ؟؟؟

دوطنیت درس ! ـ د (حب الوطن من الایمان) درس دخپلو خاورو اوهغی مځکی چه خاړ یوځې یکښې شوی وی دمینی درس !

دزړه فریاد می له جدایی
اورمی ورك نشی داشنایی
چه پروطن وی زړه څه قرار وی
یم بې طاقته په پردیسی

تاسی ورته لحیرشی ! ـ داحمدشاه بابا دزړه دمراد غوښتی ددی اویوفتوحاتواو کامیابی په نسیم لاونه غوړیدله ، هلته ئې دخپل وطن دغرودلمنو او درو نسیم غوښت اودزړه ګل ئې په غوړاوه .

دزړه ګل به می دخاوروکه سرپورته
که نسیم له کوهستانه لګیده

ددغو بریو په وخت کښې وایی :

ستاد عشق دوینو ډك شوه لحیګرونه
ستا په لاره کښې بایلی زلمی سرونه

« پاته د ۲۸ مخ »

برسیره په دی اول بیت یوذوقی کیف هم اری چه تعبیر لحنی ګران دی یادرحمان دابیت :

سره په وینو د سرو ګلو په څېر زانګی
هزار زړونه ستادزلفو په هرخم کښې

او دپیر محمد دابیت :

په هر خم کښې ئی پراته ووهزار زړونه
په رخسار چه دې زلفینی تاو بدلی

داول بیت بلاغت ، خوږوالی ، حسن ، ښه ادا ، ښه تلازم اوتناسب مراعات النظیر یو ښکاره شی دی ، دزلفو په هرخم کښې د سرو ګلو په څېر په سرو وینو دلړلو زړونو زړنګیدل حقیقت دادی چه در حمان غوندې یو لسان الغیب شاعر ئی ویلی شی. (نوربیا)

تاته راشمه زړ گی زما فارغ شی
بیله تامی اند یښني دزړه مار ونه
که هر خومی ددنیاملکو نه ډیر شی
ځمانه هیر نشی داستا ښکلی باغونه
دډهلی تخت هیر ومه چه رایا د کړم
ځمادښکلی پښتو نخوا د غرو سرونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې
زماخوخوښ دی ستاخالی تش ډگرونه
احمدشاه به دغه ستاقدر هیر نه که
که ونیسی دتمام جهان ملکونه

وگوری ! یه داسی ځای، اوداسی حال ، اوداسی کامیابیو کښی خوباید ده دخط ا و خال او ساقی یانوردغرور یاد کامیابی اوفتح اشعار ویلی وای ؟ نوخونه ویل کیده ! ! ! ځکه چه دده دزړه یه کومی کښي یه دغه وخت کښي دخپل وطن دناوی جمال ځای نیولی و ، اودخپل وطن دشیدو تو دوخي ئي چه ده رودلی وي تراوسه لا یه زړه کښي وه ، بل شی ئي دزړه یه کومی کښي یه دغه وخت کښي نه ځا ئیده اونه دهغو شیدو دحرارته سره دبل شی حرارت گډیده

د پښتنو ډیرلوی شاهنشاهان ،لودینانو اوخلجیانو پرودانو مملکتو حکومت کاوه ، منگر هغه توله دخپلو فتو حاتو او نیولو مملکتو یه حب او ننداره کښي ډوب و ، دخپل وطن دغروسرونه یاتش خالی ډگرونه د چا پیا د وه ؟ ـ احمد شاه با با عملاً هم دا خپل دحب الوطن درس و پښتنوته ثابت کړی و ، ځکه چه پس له هری فتح خخه بیرته هغی خپلی مېنې ته راغلی دی چه ده خا ډ یو خی یکښي کړی وي ، او یه همد غه خپله مېنه کښی اوس هم هغه دی پټ دی .

یه شعر کښي داحمدشاه بابادملی وحدت درس :

احمد شاه با با یه خپل ابدا لیت اود را نی توب نه نا زیده ، ده ټول ملت ته یه یوه سنر گه کتل اوټول ئي ملی وحدت اوا تفاق او اتحادته را بلل ، دده صداقت او راستی اود زړه صفا ئی خوښه و ه او که هرخونه دولتمن اوموډ اویه جامو پټ سړی وای چه یه ز ړه کښي به ئي خیره در لو ده تر هغه به ئي مسکین چه گد له ئي ا غوستي وه او یه زړه کښي به صفا او راست و خوښاوه ، اویه عمومی ډول سره ئي د وی ته پردي باندی یه خپلو ښایسته طبیعی اشعا رو کښي تلقین کاوه :

تو له یو که د ر ا نی د ی که او د لی
ښه هغه چه ئي د ز ړه ښیښه صفا د ه
چه عمل ئي د نیکی و ی مېړ ه هغه
که ا غو ستي ئي گد له د خمتا د ه
پښتا نه دی تو له لاس دوروری ورکا
چه مو نن غزا هر لو ری شا وخواده
د خا لق یه د ر قبول د ی نیکو کا ره
نیکو کا رو خخه د لوی خپتن ر ضا د ه

یه کو ښښ ا و ز یا ر کښي وایی :

بی ز حمته را حت چا مو ند لی نه دی
دمچی یه د و د له ځانه خو ر ه ر طب

وایی ، دنن کارو سباته مه پریږ ده:

احمد شاهه خو دی کاریه لاس دی مت کړه
حیف هغه چه یه تیر کار موزي لا سو نه

یه ننگ او مړا نه کښي وا یی :

پر ننگ مړ خو خه مړ نه د ی
د بې ننگه ژ و ند جفا د ه
لا س به و ا نخلم له ننگه
که یه ننگ پا ته د نیا د ه

داخلا قو درس :

چه خبره دپستۍ دبلندۍ شی
په‌لوی‌لکه اسمان په‌پستی خاك

دتکبر بدی راښیی :

تکبر دی له شیطانه مه‌ئې نغوږه
چه په کبر به‌سر وچ کړې لکه‌لوخه

کمینی :

کمینی‌شکستگی داستا کمال دی
خو د بینی په بډایی گڼه تباه

وفا :

مرگی ښه دی په دنیا کښې
نه چه څوك شی بی وفا
سر په تیغ پر یکړی ښه دی
تر بې پته په دنیا

دارذالو څخه‌احتراز:

احمدشاهه‌له ارذالواحتراز کړه
دوفاثمر به مومې له اشراف

دخپلوۍ‌معیار:

په‌خوله‌یار په زړه انکار وی
دا سړی په جهان خوارشو
ده تنگسه دمړو تله
په تله د شی مقدار شو
شا احمده په تنگسه کښې
گوره کوم یار وفادار شو

رښتیا :

چه در واغ ترخوله وباسی کله خوله‌ده
چه رښتیا ترخوله وباسی خوله هغه

❀ ❀ ❀

احمدشاهه چه څوك سم شو
هغه چار مونده تمام

دبې‌وزلو لاس نیوه:

چه خدای لوی کړې احمد شاهه
تل د خوارو دستگیری کړه

نصحیت ار وېدل:

هر دانا دبل نادان خبره پند کا
پرنادان به د دا ناخبر وی ستوخه

دعلم تشویق:

څو ډېوې دعلم دی همېشه بلی
د غفلت په‌تیاره څو گرزې عجوزه
دایقین ، علم له ځانه سره مل کړه
د همت په وزرالوزه الوزه

❀ ❀ ❀

دڅلو رو خوا به د ر د ر ته ځلیږی
که دعلم روڼ څراغ ته درته بل کړې
روح دعلم رڼا اخلی هله زده کړه
احمدشاهه چه‌بد خوی په‌ښه بدل کړې

بسته! څو ترڅو به‌مونږ دلته دده‌غازی داشعارو انتخاب کوو، بلکه دا انتخاب نه‌دی ،دده ټول د ېوان دډول ډول‌مینی اودعشق ددنیااونور وپوره درسو څخه ډك دی ، چه پاته پښتنو ته‌ئې ور کړی دی ، هم د شعر او شاعرۍ له حیثه ، اوهم داجتماعی‌اوحماسی او عشقی مضمونو له کبله .

داموهم دهغه‌دېو انه رااخیستی‌دی .

زمونږدنوروپښتنو شاعرانو دشعر او شاعرۍ نمونه،اودشعر اوشاعرۍ او دپښتو دادب لاره ، اود دوی دادب درسونه‌به بیاپه بله‌گڼه کښې دهر یوه دالږ لږ په خپل وارسره نشر کو. (نوربیا)



د پښتو ګرامر په څه اساس ولیکو ؟

کل پاچا «الفت»

ستر سوال اوغته پوښتنه ده، ښائي چه يدی باب کښې هر څوك نظريات ولری او وئی ليکی ځکه چه هر پښتون له پښتو سره رښتيانی علاقه لری او غواړی چه دا دملیت اساس له هری خوا په ښه ډول وروزل شی او دملی ادب اساس پوخ اومتين راشی .

خبره په تمهيد اواجمالی بحث ډېره نه او زدوم ديوې ژبی دګرامر په اساس باندی بحث کول ښکاره اهميت لری او هر يو پوهيږی چه دا بحث څومره مهم دی اود يوه ملت په عرفانی او ادبی حيات کښې څه قيمت لری ؟ ؟

ددی دپاره چه سوال انږ څه واضح شی او زما مطلب هم څرګند وی وی وايم چه د پښتو دګرامر په باب کښې زمونږ پوهان مختلف نظريات لری ، ځينی وائی چه پښتو ژ به بيله کوم شك او تردید څخه يوه اريائی ژبه ده نو بايد ګرامرئی هم داريائی ژبو په اساس بناشی دمثال په ډول وائی چه په پښتو کښې ځينی شيان شته چه په عربی کښې ئی نه مومو اويو له هغو څخه (و، دی...) دی چه څوك ئی په يوه نامه اوڅوك ئی په بل نامه بولی. زما مطلب پدی خبره کښې چه دا کلمات په عربی کښې نه مومو دادی چه دعربی (کان، يکون) که څه هم همدغه حيثيت ولری مګر څنګه چه (و) يا (دی) دپښتو په هره جمله کښې استعماليږی (کان) په عربی کښې دغه راز هر ځای اوپه هره جمله کښې نه دی مستعمل ، نو که مونږ دادوه کلمی فعل وبولو بايد هر ګوره داجملی (احمد ښه سړی دی - محمود راغلی دی - اسلم مېلمه و) فعلی جملې وبولو او په پښتو کښې اسمی جملوته بيخی قايل نشو، نودغه رازغتی اووړی خبرې مونږ مجبور وی چه په پټو ستر ګو عربی ګرامر پسی ولاړ نشو . ځينی نور پوهان وائی چه بايد مونږ د پښتو ګرامر په ليکلو کښې، دهيڅ ژبی دګرامر خيال ونه ساتو اودتقليد يا تطبيق له افکار وځان مجرد کړو تر څو چه په پښتو کښې يو داسې ګرامر پيدا کړو چه هغه د ژبې له خصوصياتو او اصلی تشکيل څخه ناشی وی .

بعضی کسان داسی هم شته چه دسامی اصولو د ګرامر پيروی ډېره ښه بولی اودغه اساس ډېر زيات خوښوی. په دی دری نظر يو کښې زما خيل فکر دادی چه مونږ به خپل ګرامر دآريائی ژبو دګرامر په اساس بناکوو مګر دپښتو خپل ساختمان اوتشکيل به ورځنی نه قربانوو يعنی اول چه کلمه پرڅو قسمو ويشو نو په اسم و فعل وحرف به ئی نه تقسيمو وبلکه لکه ارو پائی ګرامر ونه په اسم وصفت وضمير وفعل ... . باندې به ئی وپشو اوګورو به چه په دغو اقسامو کښې کوم کوم قسمونه په پښتو کښې مستقل قسمونه کېدی شی او کوم نشی کېدی ، کوم قسم پکښې دمرکزيت حق لری چه هلته بايد دژبی ډېر مسايل راغونډشی اوغته برخه ورکړو ، کوم بحث بايد باب وګڼو او کوم بحثونه فصول وبولو . څه شی چه زه ئی دلته دنمونې اومثال په ډول د خپلی مدعا دتوضيح دپاره راوړلی شم هغه دادی چه مونږ

په پښتو کښې وار دواره چه ژبې ته په کلي او عمومي لحاظ گورونو داسې راته ایسي چه د پښتو په تشکیل او ساختمان کښې لکه نوري اریائي ژبې له تصریف څخه دومره ډېر کار نه دي اخستل شوي لکه چه په عربي کښې ورځني اخستل شویدي یعني اکثر هغه کلمات چه په عربي کښې د تصریف په ډول جوړیږي چه دیوي کلمې په اصلي صورت کښې تغیر راځي او بله کلمه ورځني جوړه شي لکه چه د (نصر) له مادي څخه (ناصر، منصور) جوړیږي او قریب نسبت ئي (ینصر) ته کیږي یا لکه (عبید، اریضته) چه له (ارض او عبد) څخه جوړ شوي او داصل کلمو په صورت کښې تغیر راغلي دي په پښتو کښې دار از کلمات په دغه ډول نه جوړیږي بلکه د ځیني اداتو په الحاق او اتصال جوړیږي یعني کله چه دلیك له مادي څخه اسم فاعل جوړوو نو (ونکی) ور پوري نښلوو لیکونکي جوړیږي او که له کومي کلمې څخه د تصغیر کلمه جوړوو نو د تصغیر ادات ور پوري وتړو لکه له (کور) څخه چه (کورگی) یا له (میز) څخه (میزگی) جوړیږي.

همدا رنگه کله چه مونږ د ظرف کلمات په پښتو کښې گورونو د ساختمان په اعتبار د وه رازه راته ایسي چه یو قسم ئي نه تجزیه کیږي لکه نن، پرون، شپه، ورځ، او بل قسم ئي تجزیه کیدونکي دي لکه مېږتون یا داسي نور چه درو ستني جزیه الحاق جوړ شویدي. همدغه ډول کوم وخت چه اسم معنی جوړوو نو د ځینو کلماتو په آخر کښې ځیني مخصوص ادات ونښلوو او یوه بله کلمه ورځني جوړه شي لکه: ځلمي، ځلمیتوب، اوچت، اوچتوالی - حیران، حیرانتیا - یا داسي نور...

نو هر کله چه دغه کوایف په نظر کښې نیسو او د ژبې تشکیل ته گورو دي نتیجې ته رسېږو چه باید د پښتو په گرامر کښې داداتو بحث ته په مرکزیت قایل شو او مهم باب ئي وگڼو یعني داسي ونکړو چه لکه عربي گرامر و نه مصغر اسمو نه د اسم په بحث کښې راوړو او هلته پرې پوره بحث وکړو ځکه چه په پښتو کښې د تصغیر کلمات هغسي نه دي چه لکه عربي د یوه اسم څخه د تصریف په ډول جوړ شي او داداتو په بحث پورې هېڅ ربط ونلري نو مونږ به داداتو بحث تقریباً خپل نیم گرامر گڼو او دغه راز اسما به هلته داداتو د الحاق په بیان کښې ښیو هسي نه چه د اسم په بحث کښې به د اسم معنی ادات د اسم تصغیر ادات، د ظرف ادات یا داراز نور ادات راوړو او د اسم د بحث تابع کوو به ئي.

دلته یوه بله خبره هم د کولو ده چه باید وکړ شي هغه دا ده چه ځینې علامات هم په پښتو کښې شته چه د ځیني کلماتو په اخر پوري نښلي او هغه کلمې مؤنثي شي یا جمع ورځني جوړیږي دا علامات باید ادات ونه بولو لکه ځیني پوهانو چه بللي دي او د تذکیر و تانیث، مفرد او جمع بحث په اداتو کښې را نه وړو ځکه چه ادات مونږ هغه شي بولو چه هغه یو ادنی کلموي حیث ولري او د مستقل موجودیت خاوندوي لکه (توب) (تیا) (گی) (گوتی) چه د تانیث له علاماتو لکه (ه، ا، ی...) څخه څرگند فرق لري او د جمع له اکثر و علاماتو څخه هم ښکاره توپیر لري ځکه چه د جمع علامې هم زیاتره داسي وي چه په دغسي موجودیت سړي ورته نه قایلیږي لکه د (سړی) جمع چه له مفرد څخه یوازي حرکتي فرق لري، یا داراز نوري جمع چه علامات ئي څه کلموي کیف نلري، نو که چیري د جمع کومه داسي علامه هم وي لکه (گانی) چه په ځینو جملو کښې راځي او صورتا (د توب، تیا) رنگ لري هغه هم د جمع د نورو علاماتو په ډله کښې تیر ېږي د علاماتو او اداتو فرق په یوه بل راز، هم کولی شو چه و وایو علامات چه د کلماتو په اخر کښې وي د عوا ملو په اثر کښې تغیر مومي لکه (د سړو، د ځانگو گانو، د میلمنی یا داسي نور) چه بې د الف او ثقیلي (ی) څخه نور ټول علامات تغیر مومي مگر (توب، تیا، والی) چه ادات دي هېڅکله تغیر نه قبلوي. بله دا چه ادات د کلمو نوعیت هم اړولی شي او علامات د کلماتو صفت بدلوي لکه تذکیر و تانیث جمعیت او افراد چه داراز تغیر لکه ځلمي او ځلمیتوب هومره فرق نلري ځکه چه یدي دواړو کلمو کښې دومره توپیر لیدل کیږي لکه چه د جسم او معنی په منځ کښې ئي گورو.

څه شي چه مونږ ئي علامه بولو هغه کله په اداتو کښې هم وي لکه (تیا) چه د اسم معنی ادات دي او یوه کلمه علاوه له دي چه نوعیت ئي بدلوي مونث کوي ئي هم لکه زوړ او زوړ تیا، ړوند ړند تیا یا داسي نور.. نو علامه څنگه چه په یوه مستقله کلمه کښې گورو هغسي په اداتو کښې هم پیدا کولی شو ځکه چه ادات هم کلموي حیثیت لري مگر علامې ته په دغه حیثیت نشو قایلیدلی.


علمی څېړنی

له الر ـالی څخه :

درسامی فن

دښاغلی عزیز الرحمن خان « سیفی » ترجمه :

که د یو انسان نظر په یو رسم باندی ولوېږی ، نو دډېر لږ دقت وروسته دغه رسم یاد انسان خوښ شی اویائې خوښ نه شی ، یا ئې په نفس کښې یو راز خوشحالی پیدا کړی او یا ئی پیدا نه کړی ؟ یائی پر ذوق او خوند برابروی او یانه؟ دائی ولی خوښېږی ؟ اوولی ئې نه خوښېږی ؟ اوداد خوښ والی اونه خوښ والی حکم دانسان د کومی عاطفې څخه صادرېږی ؟ آیا دذوق څخه ؟ ذوق دڅه شی نوم دی؟ آیا ذوق دعقل نوم دی ؟ اوعقل په دې لیار کښې په کوم شی استناد کوی ؟ په دې موقع کښې مونږ غواړو چه په دې موضوع یولنډ بحث وکړو ؛ او دا ځکه چه که په دې لوړه موضوع ډېر او ږده او مفصل کتابونه ولیکل شی نوهغه هم ددی لوړاوقیمتی فن حق په پوره ډول سره نه شی ادا کولای نوله دې کبله مونږ پر دی موضوع لنډ بحث کوواوو ایو چه رسامی دهغه فن نوم دی چه دخپل خاص فن په سیوری کښې د دی فن خاوند په خپل فنی اسلوب د خپل شعور او عاطفی مظاهر دیو خاص رسم اوشکل په صورت خلکو ته ښکاره کوی ؛ اولکه څه رنګه چه دژبی په اصولو اوقواعد وپوه انسان خپل مطلب په ښه او صحیح اوخوږ اسلوب اوجذاب عبارت خلکو ته ښکاره کولای شی همدغه شان ددی فن په اصولو اوقواعد وپوه رسام خپل شعور اوعاطفه په ښه او صحیح جذاب شکل رسم کولای شی ؛ او لکه چه هر ناطق اومتکلم شاعر اوادیب نه شی ګڼلی همدغه شان هر رنګ آمیز او درسامی د آلاتو لرونکی ته هم رسام نه ویل کېږی ، اولکه چه شاعر اوادیب دخپل کلام دجذابیت اونزاکت په سیوری کښې دخپل کلام دنزاکت اوصحت په اندازه له نورو ادباو اوشاعرانو څخه تفاوت لری ؛ همدغه شان هر رسام هم په دې اندازه دنور ورسامانو څخه تفاوت پیدا کوی . اوهمدغه شیان دفن دپیاوړو دیو بل څخه دتفاوت مهم عوامل اواساس ګڼل کېږی .

نوله دې اصولو له قراره رسامی او یانور فنون دانسان دپاره یو جګ مقصد ته درسېدلو یوه ذریعه ده اوپه کوم وخت کښې چه انسان یو رسم ته ګوری نوهغه ورته په دی نظر ګوری اودرسم څخه د دی خبری هیله اوانتظار لری چه ددی رسم رسام څه وائی . اوکه دیو رسام په رسم کښې یوه ښه مفکوره او مفیده غایه ونه لیدله شی نو په دی صورت به دغه رسم یوبی فائدی اولغوه شی وګڼل شی ، ځکه چه په رسم کښې داضروری خبره ده چه باید رسم بالکل ګنګ نه وی بلکه رسم باید په خپله منظره او تصویر کښې ځینی مخصوصی قصی اوخبرې اورموزولری او انسان ته یو نوی پټ مرموز حقیقت ښکاره کړی اوهم په دغه شیانو درسام فن اومقام ، امتیاز اوجګ والی پیدا کوی ځکه چه درسم لیدونکی درسم په خواوشا کښې داپوښتنی کوی ؛ په دی رسم کښی کوم داسی نوی پټ شی ښکاره کړ شوی دی چه مونږ ته پخوانه ومعلوم؟ دی رسم یوه مجهوله اونامعلومه معنی ښکاره کړی ده؟ آیادا رسم د یو لوړ مقصد خواته روان دی؟ اویادی رسم د ژوندون په کوم تیاره خواباندی رڼاغورځولی ده؟ اویادی رسم دژوندانه په موسیقی کښې کومه نغمه زیاته کړی ده؟ په کوم وخت کښې چه مونږ په کوم رسم کښې دې شیانو ته یوه اشاره ولیدله نومونږ دغه رسم ته د قدر په سترګه ګورو

عبقری رسام دیوعبقری شاعر مثال لری چه دواړه دلوړ روح درابطی اوخدائی نور په رڼا کښې کار کوی او که څه هم ددې دواړو کارو ه اوو ظائف جلا دی لیکن سره ددې هم دا دواړه دخپلو سپېڅلو احساساتو په سیوری کښې دکائناتو په خواوشا کښې کشفیات کوی.

دپیاوړی رسام وظیفه داده چه دی دخپلو سپېڅلو احساساتو او پاك زړه او سماوی بصیرت او فیاض شعور اودقیق فکر او متینی عاطفی په سیور کښې دنړی پر هرافق الوزی اودکائناتو په خواوشا کښې پلټنی کوی اوکائناتوته په دقیق نظر گوری او ددغو خپلو پلټنو نتیجه په یوداسی ناطق رسم کښې خپل قام ته وړاندی کوی چه هغه دهغوی په ژوندون کښې یو خاص مفید اثر پیدا اوهغوی د ژوندانه په رمز او نزاکت پوه کړی اودهغه په لیدلو ورڅخه هغوی داعتلاء الهام واخلی اودهغوی په شعور اواحساس کښې ښکلی جذبات پیدا کړی.

د پیاوړی رسام اوپوه اورښتین فنان تل دا فکر وی چه دخپل فکر اظهار اوښکاره کولو او د خپلی عاطفی دشرحی دپاره یوه داسی موضوع وټاکی چه هغه دده دفکر دلوړ والی اورښتین ذوق ترجمانی وکړی شی نو کوم فنان چه لمونځ اویامینه او نوری دارازمنظری رسم کوی دهغه رسام څخه ډېری لوړې دی چه دی دحقد اووحشت اور ذالت مناظر رسم کوی اودائحکه چه لمړی دروحی جمال مناظر رسم کوی اودوهم دخلکو دروزانه مادی ژوندون تابلو رسم کوی که څه هم ددی فن تحدید په ځینو مخصوص موضوعاتو پوری معقول نه لیدل کېږی بلکه ښه اومعقوله خبره داده چه دی موضوع ته پوره تعمیم ورکړشی ، لیکن د پوه او پیاوړی فنان وظیفه داده چه که دی یوه ډېره جزوی او کښته موضوع ترنظر لاندی ونیسی نوسره ددی همدی باید دغه موضوع ته د خپل فن اولوړی قریحی په سیوری او اقتدار یوداسی لوړروح پیدا کړی چه دهغی په لیدلو سره دانسان په احساساتو کښې نوی روح اوجذبات پیداشی ، باید فنان دخپل فن په ځینی ابتکاری چارو کښې تریوې اندازی له تقلیده څخه ځان وباسی ، اود تقلید څخه وړاندی دجامعی ذوق او مفادتر نظر لاندی ونیسی او په دی فکر خپل ذوق او قریحه ونه وژنی ، بلکه باید فنان داد تقلید لومه وشکوی او دخپلی قریحی اوذوق په وزرونو دقدرت ومنظرو په ازاده فضا کښې والوزی اولکه دگینه ومچی دښکلې فضا اوښو گلانو څخه شیره راغونډه او د یو خوږ گینه په څیرنی خپل قام ته وړاندی کړی چه دجامعی دډېر ورنځو رانو د ډېرو رنځونو دارو او د ډېرو خلکو ترخی خولی پری خوږی شی ، باید فنان دمچ په شان نه وی چه په هر پاك او پلیت شی کښینی اوټوله ورځ خپل نجس مکرو بونه په جامعه کښې خپر وی اوبی دنقصان څخه ئې فائده چاته نه رسېږی اوهر کله چه دخلکو دذوقونو اوغرائیزو په اثر دحسن په موضوع کښې پر یو ټاکلی شوی شی باندی اتفاق کول یو ډېر گران کارو، نوله دی کبله پوهانو د هرشی د پاره داسی حدود وټاکل چه دهغو په سیوری کښې په یو ټاکلی شوی شی حکم وکړشی اوپه دې لیار کښې په دغه اساس ولاړ شی :

مثلاً د ونو ، او بوټو، اوویالو ، او جړو بو ، اوډنډونو، اوسیندونو، اومحیط ، اوغرونو ، اوآسمان اووریځی، اوخونو، اوودانو، اوداسی ټولو مظاهرو د پاره دا راز اصول او قواعد ټاکل شوی دی چه دافن ئې په یوه دائره کښې راوستلی اودجمال دپاره ئې حد او اندازې ټاکلی دی .

او دې اصولو تریوې اندازې پوری ذوقونه په خپله قبضه کښې راوستلی دی .

او د دې پورته مضمون څخه دا خبره ښکاره معلومه شوه چه ښکلیوب داسی شی نه دی چه هغه پخپله پیدا شوی دی ، بلکه دا شی په حقیقت کښې د ثقافت اوتهذیب غایه ده ؛ اودذوق عمل په حقیقت کښې دنفس اوعقل دکسب طبیعی نتیجه ده چه د منطقی مقدمو او د ژوندون د تجربو څخه حاصله کړی ده ؛ اوپه دی مقام کښې ځینی داراز اصول هم شته چه د طبیعی مناظرو په خصوص کښې د هغو اصولو مراعات

تر یوی اندازی پوری ډېر ښه او ضرور دی او ممکنه ده چه په را تلونکی وخت کښی له دې څخه نور عمده اصول هم میدان ته را وویستل شی ؛ لیکن ځینی دا راز اصول هم شته چه په رسامی کښې دهغو مراعات لازم دی او د فنان دپاره هم د هغو اصولو مراعات ضروری دی ؛ او دا هغه شروط دی چه «جون راسکن» ذکر کړی دی.

(۱) صدق او حقیقت (۲) بساطت (۳) یو قسم سحری ابهام (٤) د تعبیر ایجاز (٥) جرأت (٦) سرعت.

او په دی صورت کښې چه مونږ د طبیعی جمال مظاهر په ښه شان سره ښکاره کړای شو دا خبره لازمه ده چه مونږ دغه دطبیعی جمال منظره دفن او ذاتی جمال له رویه رسم کړو. په کوم وخت کښې چه مونږ یو ښکلی ویاله ووینو چه د هغې په دواړو غاړو ښکلی شنی ونی ولاړی، او د دغه اوبو په مخ باندې دو نو شنې څانګی غوړیدلی وی، په دی صورت کښې داخبره ضروری ده چه زمونږ ذوق دغه دقدرت د لاس جوړه کړی منظره جلب کړی او دا ځکه چه په دی طبیعی منظره کښې دانسان لاس بالکل مداخله نده کړی اوددی په فطری اجز اوکښی تغیر اوتبدل ندی کړی ؛ اوهم داسبب دی چه داطبیعی منظره دانسان په سترګو ډیره ښه لګیږی اودایوا ځی په دی ځای کښې نه بلکه دا حال دټولو هغو منظرو دی چه دهغو په فطری حال کښې څه تغیر نه وی راغلی اوهر کله چه دکوم شی په فطری وضعیت کښی تغیر را شی نو په دی صورت د هغه شی هغه فطری جمال اود هغه جمال فطری جذابیت دانسان په نظر کښې کمیږی ؛

مثلا کومه هوسۍ چه پر خپل فطری حالت باندی وی نو دهغی هر حرکت اوټوپ ځانته جلا خوند او جاذبیت لری لیکن که دهغی په اعضاو کښې کم یو عیب اویا ګوډوالی پیداشی نو دهغی جذابیت بالکل ولاړ شی، اوهمدغه شان کوم ګل چه په بوټی کښې پر خپل طبیعی حال باندی وی، دهغه جذابیت دهغه ګل په نسبت ډېر زیات وی چه انسان ئې وشکوی. لنډه دا کم شی چه بالکل په خپل فطری وضعیت وی او دهغه فطری وضعیت ته کومه صدمه نه وی رسیدلی، نو د هغه جذابیت ډیر او کامل وی.

د رسام دا وظیفه نده چه هغه داشیا ویه حقیقت کښې فکر او دقت وکړی اودیو جړوبې او ویالی درسم په وخت کښې داوبو حقیقت په دی شان تر نظر لاندې ونیسی چه مثلاً د اوبو جز هایدروجن اوبل آکسیجن دی بلکه دده وظیفه داده چه داوبو ظاهری حرکات او ظاهری مظاهر تر نظر لاندی ونیسی اوهم دغه مفکوره باید په ټولو مناظرو کښې موجوده وی دجمال په ترسیم کښې بایددې راز عوامل ته اهمیت ورنه کړشی، بلکه باید پدی لیار کښې دخپل سلیم ذوق اوعاطفې څخه کار واخلی اودې میدان ته دمادیاتو دلیاری رانه شی بلکه دی بایددې میدان ته دروح اوکمال اوذوق او عاطفې دلیاری راشی.

څلوریزه

چه په ژمی دی سمور کښې کړځان تود
په کتغ دومره غوړی خوری لکه رود

کوم غریب چه نس ئی وږی وی تن لڅ
له هغه سره هم وکړه لږ څه دود

(مرحوم مخلص)

دا کابرو د کورسو مثبت نتایج

لږوخت لانه دی تیرشوی ، چه په افغانستان کښې دا کابرو د کورسو تاسیس د مطبوعه تو دمستقل ریاست دپښتو ټولنی له خواشوی دی .

د دې کورسو دپیشرفت دپاره ټولو ښاغلیو ملکی او عسکری مشرانو ډېره همکاری کړې او اوس چه کتل کیږی ، مثبت نتایج لحنی اخیستل شوی دی .

مخصوصا په مزار اوهرات اوقندهار کښې ښاغلیو عسکری و روڼو په دی لار کښې ښه زیار کښلی دی ، په دی منظره کښې تاسی دمزار شریف د دهدادی دعسکر ودلویانو د کورس دامتحان ننداره گوری ، . چه والاحضرت معظم وزیرمعارف له یوه فرده خخه امتحان اخلی ، اودغه فرد پر توره تخته خط لیکی . دامنظره دوطن دلوړتیا غوښتونکو دپاره ډېره دخوښی وړده !


تاریخ

پخوانی افغانستان

(۹)

دوهم فصل

آریا

ویدی مدنیت

هندواروپائی- یاباختری کتله ؛

ښاغلی «کهزاد»

علمی ټولنی دی خبری ته ملتفتی شوی چه د «زند» ژبه د سانسکرت دژبی سره شباهت لری .

کوردو نومی بل فرانسوی مبلغ په سنه ۱۷۶۷ کښې دفرانسی دپخوانو آثارو د ساتنی په ځای اودادبیاتو په اکادمی کښې یوخط ولیکلو اوپه دی خط کښې دی مبلغ دلمړی ځل دپاره په خپل دغه مکتوب کښې دسانسکرت اویونانی او لاتینی ژبی په منځ کښې دشباهت موضوع ښکاره کړه .

په سنه ۱۷۸۶ کښې چه مستر ویلیم د کلکتی په آسیائی انجمن کښې یونطق وکړ ده هم په خپل دغه نطق کښې دسانسکرت اویونانی اولاتینی اوجرمنی او سلتی ژبو په منځ کښې په قرابت بحث وکړاودی راز مطالعاتو په خلکو کښې ادامه پیدا کړه، اوهر کله چه دنولسمی پېړی په اوائلو کښې دهند اواروپا دخلکودژبی قرابت په علمی دلائلو سره ثابت شوددی ثبوت سره طبعاً داخبره هم ثابته شوه چه دغه ټول قامونه دیونژادڅخه دی اودوی په اصل او مبدا، کښې دیوبل سره شریک دی ، او په دی ترتیب اوتناسب پوهان ددی قام یعنی دآریا دلمړی مېنې او کورپه پلټنه کښې مصروف شوه، له هغه وخت نه تر اوسه پوری چه تقریباً یوسل اوپنځوس کاله کېږی چه پوهان په دی ایار کښې خپل نظریات ښکاره کوی اوهر یوه دخپلو معلوماتو اوتحقیقاتو اودلائلو په مرسته داخبره ثابته کړی ده چه دآریانا داوسېدلو لمړنی ځای په مختلفو نقاطو کښې لکه دارو پاشمال اسکاندیناویا ، فنلیند، جرمنی؛ ددانیوب حوزه، دبحیرهٔ اسودشمال، دروسیه جنوب؛ دبالقان شبه جزیره؛ داورال اوالتائی په منځ کښې، مرکزی آسیا، سایبریا؛ پنجاب وغیره شوتعین کړی دی چه دهغوټولو ذکر په دی مقام کښې ځکه نشی کیدلی چه که دغه ټول پوهان او دهغوی نظریات مفصل ذکرشی نودغه نظریات به ځانته دغټو کتابونو شکل اختیار کړی نوله دی کبله مونږ ددغو مفصلو نظریاتو له ذکر څخه په دې مقام کښې صرف نظر کوواوله دی ټولو نظریاتو

څخه په هغه نظریه اکتفاء کوو چه هغه په دی ټولو نظریاتو کښې پخه او منل شوی نظریه ده؛ او ویدی سرودونو او اویستاغوندی د آریا مهمو منابعو دهغی تائید کړی دی.

په لمړۍ وهله کښې چه پوهانو د آریا موضوع او دهند او اروپا د قامونو دژبو دقرابت مسئله منځ ته راواچوله نو لمړۍ او عمومی عقیده داوه چه د آریا لمړۍ ځای دهندو کش شمالی لمنی دی چه عبارت داکسوس دحوزی یا دباختر صفحاتو څخه دی «ماس مولر» او «فرانسوالنو رمانت» دواړه د دی نظریې لوی طرفداران دی.

مخ کښې مودی خبری ته اشاره وکړه چه په دی یو نیم سلو کالو کښې د آریا دلمړۍ ځای په خواوشا کښې ډېر مطالعات او پلټنی شوی دی او په دی خصوص کښې راز راز نظریات پوهانو ښکاره کړی دی، په راتلونکو تحقیقاتو کښې د آریا لمړی مهد په هر ځای کښې چه وټاکل شی و دی ټاکل شی کومه مسئله چه په هغې کښې ټول متفق دی؛ او تل به متفق وی او دهرې نظریې سره چه تر اوسه منځ ته راولویدلی ده بالکل موافقت لری او نوی تجسسات دهغی تائید کوی هغه داده چه باختر دهغی آریا یې کتلی لمړنی مهد دی چه په افغانستان او هند او فارس کښې خپره شویده او که څوک پرته له دی لمړی کانون څخه په نور فرعی کانونو هم قائل شی او که فرضا باختر هغه لمړنی اصلی کانون نه وی او فرعی کانون وی نو په دی خبره کښې شك نشته چه افغانستان او هند او فارس به هغه کانون وی چه ددوی اصلی مهد او کانون ګڼل کیږی او د اراز نظریه د یوی شخصی نظریې څخه زیات ارزش نلري او له دی کبله مونږ له دی راز نظریاتو څخه صرف نظر کوو او د آریا ډېر پوخ او موثق اوستا ته مراجعه کوو او داهغه یوا ځنی کتاب دی چه نوم ئی اخستی او په واضح صورت سره ئې ذکر کړی دی چه دهند واروپائی یعنی «باختری کتله» ئی چه ځانته آریا وائی په «ایریانا ویجه» کښې ئې تعین کړی ده دامطلب څه قدرته باریکی لری او تشریح غواړی په دی خبره کښې شك نشته چه دهند او اوریا قامونه له یو ځای څخه وتلی او اروپا او آسیا ته خپاره شویدی دا یوه نقطه په هر نوم چه بلل کیدله او په هر ځای کښې چه وه؛ وه به.

لیکن دباختر آریایان او هغه خلك چه دمذهبی او ادبی ماخذ خاوندان شو پخوانۍ خاطری ته ئی معین نوم او صفت ورکړی دی چه داوبو او هوا او جغرافی ممیزاتو او دهغو دځینو رودخانو له تشخیص څخه دا کیدی شی چه دهغی تعین دسر دریاب په پورتنۍ حوزه او اکسوس کښې وکړی شی له دی کبله مونږ د ځینې مدققینو دنظریاتو سره کار نه لرو او د آریا موضوع دخپل هواد تاریخ «د آریانا ویجه اوستا او بخدیم سریرام» څخه شروع کوو.

دژبی تشابهه: په دی خبره کښې شك نشته چه آریایان عموماً دهند څخه نیولی دغربی اروپا دمنتها پوری خپاره شوی دی. او دهغوی ژبی په خپل منځ کښې دیوبل سره مشابهت لری، سره ددی دهند واروپائی قامونو په ټولو ژبو کښې دسانسکرت او زند ژبه په خپل منځ کښې دیوبل څخه ډېر لږ تو پیر او په خپل منځ کښې پوره مشابهت لری، او ددی دواړو ژبو دډېر شباهت له رویه داویلی شو چه د آریایانو دژوندون او مهاجرت نقطه یوه داسی نقطه وه چه په دغه نقطه کښې په دی دواړو ژبو کښې خلکو خبری کولی په دی موقع کښې داسوال پیدا کیږی چه دا نقطه په کوم ځای کښې وه؟ ددی سوال جواب ډېر آسان دی او بی له کوم دلیل څخه داویلی شو چه دا نقطه داکسوس (باختر) حوزه ده. دوید پوهان عموماً په دی خبره اعتراف کوی چه دویدی سرودو پخوانی برخه دسند هو «کاپیسا» په لمر پریواته او د آریانا په نورو نقاطو کښې منځ ته راغلی ده، او ددی سرودونو د اشاری له قراره نور پخوانی داسی سرودونه هم و چه دمهاجرت دمودی څخه پخوا د آریایانو دژوندون په کانون کښې ویلی شوی دی، او دباختر نه پرته بله هیڅ یوه نقطه دهند او فارس په منځ کښې ددی نقطی په شان داصلاحیت نه لری.

«نوربیا»

مشاهیر

دلسمی پیړۍ علماء

(۱)

تمهید

ښاغلی محمدامین خان «خوګیانی»

څومیاشتی کېږی دکابل مجله د ا داری دخوا ماته رااستول کېږی دپښتو او دپښتون په خوا و شا کښې ډېرمفید مضا مین نشروی داد ار ی شکر یه کوم چه ما په پخوانو ستر ګو یادوی دری کاله سر ته ورسېده چه مادنا جوړ تیا په سبب یوی مجلی او یوی روزنامی دوطن ته مضمون ونه لیکلی شو قدر دا نو چلو ونکو څوڅو واره ماته دعوت را کړ خو ما په خپل صحت باور نه در لود او دخپلو ملګر و خو اهش می پوره نه کړی شو !!!

دکابل مجلی زه دی ته راو ستم چه کله کله څه نه څه ورته ولیکم دقوس په ګڼه کښې می دښاغلی رشتین په قلم یومضمون ولوست چه دهغو شا عرانو ذکر ئی کړیدی چه د کلام نمونه ئی نن ورځ دلیکونکو لاس ته نه ده رسېدلی ممکنه ده چه دهغوی آثار پیداشی او دځینو آثار نشرشوی وی اوطبع ته هم رسیدلی وی خوعام شوی به نه وی !

په دی موضوع کښې نشر یات راته ښه ښکاره شو ل ځکه چه ا ول خلق ملتفت کوی چه دداسی خلقو آثار میدان ته را وباسی. او بل داچه که آثار ئی پیدا نه شی نو دپښتو علماو اولیکونکو احصائیه خو به پرې زیاته شی. په سر ددی دوو مهمو فوائدوا سا سی مسئله داده چه دفضلاو کمالات په اثر لیکلو پوری منحصر نه دی اثر لیکل وزګار تیا غواړی او کو مکیان غواړی او شا ګر دا نو اوکورنی کښې قدردانان غواړی چه هغه آ ثار نشر کړی اویا دهغوی اقوال ولیکی متا سفا نه په پښتنو کښې داسی خلق کم تېر شو ی دی داسی لوی لوی خلق په پښتنو کښې تېر شوی دی چه دنیائې ښوروله او اثر ئې ندی لیکلی اثر ته وزګار نه وو په کارونو بخت وو شا ګردانو تری فیضونه اخستی خود هغوی داثارو د لیکلو موقع په لاس نه ده ورغلی جامعه ئی اصلاح کړې، علم ئې نشر کړی، اسلام ئی شائع کړی، ملکونه ئی فتح کړیدی خوحال ئې ندی لیکلی شوی د خوشحال خان پلارنیکه چه په تور ه اخته و و هېڅ ا ثر ئی پا ته نه شو خو شحال خان چه ترڅو بندی کېده دخانی په کار مشغول ودیوان لیکلو ته وز ګار نه وو چه بندی شو نو قلم ئې دپخوا زیات پورته کړ، چه فرار شو نو دیوان ئی څلو پښتو زروا شعارو ته ورساوه او نن دهغه ټول اشعار موجودندی که افضل خان نه وای وز ګار شوی او دهغه آثار ئې نه وای ټول کړی نو هر څه ئی چه لیکلی وو هغه به ورك وو ! درویزه کارونه کول چه داتیاو کالو ئې عمر، واوښت نو بیا ئې تذکره ولیکله، مخزن اودامالی شرحه چه کارورته ښکارېده نو پخوا ئې لیکلی وه کورنی مدارس ددرسونو دشا ګردانو پالنه اوروزنه، دینی کتابونه

د هغه په بر کت تر او سه دهغه په ا سا س چلېږ ی خو حال ئی چالیکلی ندی.

ملك احمد یو سف زی توری وهلې اوشیخ ملی دفتری جوړو لی ملا علی اصغرد د رویزه ورور توره چلو له اودر ویزه امرمعروف اونهی عن المنکر کاوه خلق ئې ددین په لار برا برول .

میارو ښان اول علمی ژوندون درلود بیا شیخ شو بیائې قلم پورته کړ بیائې سیاسی تشکیلات جوړول بیائې توره واخسته نو بیائې خپل احوال و لیکه شیخ عمر جلا ل الدین ر و ښا نی حکو متو نه جوړ کړه او ور و نو ئې ملا و تړله احداد روښانی قصرو نه اوباغونه جوړ کړه عبد القادر د ی أعتبار ته خاتمه ور کړه تر څوچه د تخته په تابوت شو. دده په ژوندمرزا قلم چلاوه رشید خان دبل د پاره توری وهلې ، دولت اوواصل ددوی مدحی کولې .

غرض دا چه چا درس لو لاوه چا تبلیغا ت کول چا احتساب چلاوه چاتوری وهلی چااخلاقی راهنمائی کوله چاشعروایه چاقلم اخیستی و، تصنیف اوتالیف ئې کاوه خلا صه چاد ژونده سره تېره کړه او چا پس د مرګه هم نخښه پر ېښوه دا نخښې یا د توری د ی یاداخلا قو یادقلم دی یادموسساتواو هغه خلق چه د دی خلقو تربیه اوقد ردانی ئې کولې هغوکه ددوی ځنی زیات حق نه درلود نو ترې کم هم نه وو .

نو که دامسلك د کابل مجلې تر آخره وچلاوه ډېر خلق به خلقوسره معرفی کړی اوډېر خلق به پکار را ولی اوډېروته به دژوندون شعبی وښائی زاړه آثارتولول هم کاردی خوداثر دطبع کولو اونشرولو ځنی ز یات ندی او عمو می ر جالو ته توجه کول د پښتون شان او شهامت، د پښتون کار نا می اود پښتون استعداد دپښتون آرزو ګانی اود پښتون فدا کاری، ټول روښانه کوی مجله خا مخا دا آ رزو لری خو ځینی لوستونکی ورته ملتفت شوی ندی چه دا رنګ تصریحات وشی نوهر څوك به پری پوه شی چابه یوه ګڼه لوستې وی چابه بله، چابه یو کال اوستی وی چابه بل کال، نودې امورو ته ئی مخه کېږی څوك به کار کوی څوك به نشر یات څوك به دواړه کوی همدارنګ پخوانی خلق هم تېر شوی دی اوس نودیو څو ذ واتو سوانح په صورت د نمونې لیکم ددې قسمه خلقو ځینې لوی لوی رجال دمملکت دی چه ددنیا په تاریخ کښې ثبت دی او د کلام نمونه ئې مونږ تاسو سره لیکلی په لاس کښې نشته لکه مولانا نجم الدین مولانا مشك عالم

مولانا محمد یونس معروف په مولانا نور محمد:

خزینة الاصفیاء په ٦٣٦ صفحه کښې د مولانا نور محمد په احوالو کښې لیکی چه په ترك او تجرید ، عزلت، سخاوت ، شجاعت ، دیا نت کښې بی مثله و زرګونه یو سف زی پښتا نه د د ه په بر کت صلا ح ا و پرهیز ګاری ته رسیدلی و .

دی په ځلمی توب کښې د پښتنو په ز مانه کښې د تحصیلاتو دپاره سلطان پور دلاهور ته تللی و ، اوپس د تکمیله خپل وطن سمی یوسف زو ته ولاړ ، دی په طریقت کښې دسید آ دم بنوری خلیفه دی اوپه یو زر نه پنځوس کښې وفا ت شویدی تا ر یخ و فات ئی دادی.

به جنت پرتو ا فګن مثل خور شید
چو شد نو ر ا لهد ی نور محمد
ند ا شد فیض حقا نی و صا لش
د ګر مشکل کشا نو ر محمد

ددی جناب حال شاهزاده داراشکوه دشاه جهان مشر زوی د عصر په لویو علماؤ کښې لیکلی د ی او و رو ستولیکونکو ددوی ځنی نقل کړی د پښتنو علماؤ تذ کره لیکی چه دده یو ور ور مولا نا ا حمد شا ه دده سره یو ځای پښتنو پاد شاهانو هندوستان ته بوت مو لا نا احمد شاه هو ری پا ته شو او د پښتنو په حکومت په ګجرات کښې و فات شو اومزارئې هوری دی او مو لا نا محمد یو نس در باری ژ وندون خو ښ نکړ خپل وطن ته بېر ته راغی. (نوربیا)

دفن نوموړی:

رمبراندت

Rambrandt

له الرسالې څخه دښاغلی «سیفی» ترجمه

دا د پاك خدای له خوا په دنیا کښې مسلم او منل شوی قانون دی چه ځینی اشخاصو ته په مال او یا جمال او یا په یو بل صفت دنورو خلکو څخه امتیاز ورکوی او ددی وصف په سیوری کښې دهغه دمعنوی ژوندون انګازه په دنیا کښې خپره او ګرمه ساتی. ددی راز شخصیتو نو څخه درمبراندت اوړ شخصیت هم دی چه مال او خارجی رتبی یکښې هیڅ اثر نلری او صرف فن او کمال دده دشهرت او معنوی ژوند عامل او اساس دی. دی دجولائی دمیاشتی په پنځلسم ۱۶۰۶ کښې په (لیدن) نومی ځای په یوه غریبه کورنی کښې پیدا شوی دی، دده پلار به جرنده ساتله او په دی کار به ئی په ډېر تکلیف شپی سبا کولی.

هر کله چه دا هلك دیوی معمولی کورنۍ هلك و او دبی وځلۍ ژوندون ئې درلود نو دې دچا په نظر کښې نه واو نه دده په خواوشا کښې چا فکر کاوه او نه بل څوك دده دفن څخه خبر وو، او نه ده دخپل مستقبل په خواوشا کښې څه فکر او خیال درلود.

دتاریخی نظریاتو په اساس دا خبره ضروری نده چه دی دې نو په هر څه کښې پیاوړی او دلوړ شهرت خاوندوی ځکه چه مدنیت په خپله ټوله معنی فن ته هم پوره اهمیت ورکړی او فنون ئی هم د شخصیت په لوړو ارکانو کښې شمېرلی دی، په دی خصوص کښې دالمان پیاوړی شاعر شیلر وائی: چه د حقیقی تمدن حقیقی وظیفه داده چه دبشر دپاره دحریت لیار جوړه او بشر دحریت په لیار روان کړی، او بشر په دی پوه کړی چه زه دار ادی او وجدان خاوندیم او بایدزه دخپل عقل او فکر څخه کار وا خلم. لکه چه «رمبراندت» هم په دغه حقیقت پوه شو او دخپل ځان قدر ئی و پېژاند او دخپل مرګ نه وروسته ئی دنیا ته لوړ نوم او دانسانی تمدن لوړ ارکان دیادګار په ډول پر ېښودل.

دا خبره ضرور نده چه تل به دشاګرد نبوغ داستاذ او معلم په نبوغ پوری تړلی وی، لکه چه دا حقیقت در مبراندت په تحصیل کښې ښه لیدل کېږی؛ هر کله چه ده دسوانبرك څخه په لیدن کښې په ۱۶۲۱ کښې کار شروع کړ نو دده استاذ په خپل فن کښې دومره جګ او اول درجه سړی نه و، لیکن سره ددی هم ده ددغه خپل استاذ څخه دری کاله تحصیل وکړ او دفن اصول ئی ورڅخه زده کړل، او دینه وروسته دی د خپل فن دتکمیل دپاره «امستردام» ته ولاړ او د «استمان» څخه ئی دخپل تعلیم په تکمیل پیل وکړ او دشپږ و میاشتو نه وروسته دی بیرته خپل کورته راغی او د ۱۶۳۱ څخه ئی د خپل مستقل علمی ژوندون دوره شروع کړه په دغه وخت کښې دی د (۲۵) کالو و، لیکن په دی وخت کښې هم ده خپل تحصیل ته ادامه ورکړه او په دغه وخت یعنی په ۱۶۲۷ کښې ده یوه لوحه جوړه کړه چه په دغه لوحه کښې ده دخپل مهارت او کمال حق په ښه شان سره ادا کړی و، لیکن ده دخپل شغل او زیار په سیوری کښې په دغه فن کښې دومره لوړ مهارت حاصل کړ چه په دېرش کلنی کښې ددغه فن دمیدان داسی پیاوړی استاذ شو چه ټولو خلکو دده په استاذی اعتراف کاوه.

دجولائی په آخر ۱۶۲۷ کښې رامبراندت د «زاسکیا فان اولنبرګ» سره واده وکړه او دخپل ځان د پاره ئی دژوندون په مشکلاتو دمرستی دپاره یوه ښه ملګری پیدا کړه اته کاله وروسته دده دغه ماندینه مړه شوه او دی دتنازع للبقا په ډګر کښې یوائی پاته شو. او دزاسکیا په مرګ ده باندی د غمونو ور بیرته

او دډیر بد او ترخه ژوندون خاوند شو؛ ده یو وخت داسی ژوندون درلود چه ښه او نفیس شیان او نادر عکسونه به ئی په گران قیمت اخستل او په کور کښې به ئې جمع کول؛ او بیا پری داسی وخت راغی چه ښه ښه کتابونه او نادر عکسونه به ئی په ډیر ارزان قیمت خرڅول، او هر کله چه دی ډیر پوره وړی و، او بی د دغه عکسونو او کتابو او د کور د اسباب څخه ئی نور څه نه درلوده نو د پوره وړو د عرض په اثر محکمی د دغو قرضونو په عوض کښی دده د کور او اسباب د خرڅولو حکم وکړ.

په دغه وخت کښې «هند یکا یاجرز» نومی ښځی چه دده په کور کښې ئې دده خدمت کاوه او ده سره ئې ډیره مینه لرله، د خپل شخصی مال څخه ئی د ده قرضونه ادا کړل او دده کور او اسباب ئې د محکمی د خرڅولو څخه خلاص کړل؛ دی راز صد مو د دی فن دیپاوړی په زړه داسی سخت اثر وکړ چه ددی پیاوړی فنان په اکثر و لوحو کښې د غه تاثر په ښکاره ډول لیدل کېږی.

دا پیاوړی فنان دا کتوبر په اتمه ورځ ۱۶۶۹ کښې مړ شوی دی او ده د خپل مرگ نه وروسته د خپل فن په سیوری کښې دا راز لوحی دیادگار په ډول پری ایښی دی چه په هغو کښې ئې د خپل ژوندون غمونه او خوشحالی رسم کړی دی؛ او دی د فن په تاریخ کښې ددی فن امام او د هولاند د مدرسی منل شوی استاذ تیر شوی دی.

د فن تاریخ د فنان د آثارو ډیروالی ته اهمیت نه ورکوی بلکه د فن د خاوند د ابتکار قوت ته اهمیت ورکوی؛ او په دی موضوع کښې «کارل بولیوس فیبر» ویلی دی چه د فنان کمال او لیاقت دادی چه د خپل فکر او قریحی څخه یو دا راز شی میدان ته را وباسی چه له ده څخه وړاندی بل چانوی را ایستلی؛ او کوم خلک چه د ابتکار قوه نه لری د فن تاریخ ئی فنان نه گڼی او نه هغوی ته د فنان لوړ خطاب ورکوی.

«رمبراندت» تقریبا پنځه سوه لوحی په دیر شوکلو کښې رسم کړی دی او په دغو لوحو کښې د تاریخی، دینی، شخصی، او طبیعی مناظر په یو داسی روح ښکاره کړی چه د بل فنان د اقتدار څخه پورته گڼل کېږی.

همدا سبب دی چه دغه لوحی ډیر وموزیمونو او کلیسا گانو ساتلی او په دغو لوحو باندی افتخار کوی.

دده د لوحو څخه څلویښت لوحی د پطرسبرگ او هم دغو مره د پاریس، او کاسل او امستردام په موزیمونو کښې دی، او د ولس لوحی په برلین او له دغو لوحو څخه څه قدرته کمی په مادرید کښې دی.

دا لوحی پرته د هغو لوحو څخه دی چه ځینو خلکو په شخصی ډول سره د خپلو ځانو سره ساتلی دی؛ دده ځینی لوحی په لندن کښې د انگستان د پاچا، او ډیوک وستمنستر او لیدی ولاس، او لارډ بسمایر څخه دی، او په نیویارک کښې د «هافیمر» او په پاریس کښې د رودلف کان- او په برلین کښې د کارستانجن او په امستردام کښې لیدی سیکس دده له تصویر څخه یوه برخه د خپل ځان سره ساتلی ده که د فن خاوند د ده په لوحو کښې ځیر شی او د فن په ستر گه ورته وگوری نو هغه ته به دا خبره ثابته شی چه ده دغه رسمونه څومره حقیقت ته نزدی کړی او په دی لیار کښې تر کومی اندازی د حقیقت سره څنگ په څنگ تللی دی؛ او بر سېره پردی د کمال د خوا څخه هم دی د فن د لوړو پیاوړو څخه په خپل فن کښې په هیڅ شی کښې کم نه دی، دی په دی فن کښې د داسی قوی روح او جگی قریحی او لوړ اقتدار خاوند دی چه د فن په خاوندانو کښې د لمر او سیوری په تکوین کښې ضرب المثل دی او ده په دی موضوع کښې د خپل ابتکار څخه داسی کار اخستی دی چه ترنن ورځی پوری چا د دغه شی مثل او نظیر میدان ته ندی را ایستلی.

د دی لمر او سیوری په رسم کښې رمبراندت د تکوین او مجموعی جمال منظره په یوه داسی راز او مخصوص طرز ښکاره کړی ده چه هغه د همیشه د پاره دده د لوړ اقتدار پوره شاهد او د ابتکار د قوی لوړ معیار گڼل کېږی.

ده په یوه بله لوحه کښې د خپل قوی اقتدار په سیوری کښې د جرمانی او رومانی فن مقائسه کړی او د دواړو خو او د فن طرز او عظمت ئې په یو داسی

ډول ښکاره کړی دی چه هغه هم دده دفن یو صادق مصداق گڼل کېږی .

ده ځینی شخصی لوحی هم رسم کړی دی چه په دغه لوحو کښی ئې د خپل وخت پیاوړې او نامتو خلك رسم کړی او په دغو رسمونو کښې ئی خپل فنی مهارت ښکاره کړی دی ده تقریبا په خلویښتو لوحو کښې خپل ځان په مختلفو احوالو کښې په یو داسی ډول رسم کړی دی چه په هغی دده دخپگان او خوشحالی احوال بالکل ښکاره او دفن خاوندانو ته په ښه ډول ځلیږی او دده دنفسی او فنی تطوراتو او فهم او تفکیر او حقیقت موندلو ښه ترجمانی کوی .

له دی ټولو لوحو څخه مهمه هغه لوحه ده چه دبرلین په موزیم کښې ده او په ۱۶۳٤ کښی جوړه شوی ده؛ او بله هغه لوحه ده چه په «الهای» کښې محفوظ او په ۱۶۳٤ کښی جوړه شوی ده ، او بله هغه لوحه ده چه په فینا کښې ده او په ۱۶۳۵ کښی جوړه شوی همدارنگه دده نوری لوحې چه یوه په لوفر کښې ده او په ۱۶۳۷ کښې لیکل شوې ده ، او بله په لندن کښی او یوه په «ناشو نال جالیری» کښی ده چه په ۱۶٤۰ کښې لیکل شویده یوه بله ئی دلندن په «بکنگهم بالاس» کښې هم ده چه په ۱۶٤۲ کښی لیکل شوی ده . ده پخپله یوه بله لوحه کښې خپل رسم کښلی دی چه په دغه رسم کښی ئی خپل انشا ئی او فنی قوت ښکاره کړی دې چه دغه لوحه په لندن کښی «لارډسستر» څخه ده او په ۱۶۵۸ کښی لیکل شوی ده ، او همدغه شان دده دخپل رسم یوه بله لوحه په پاریس کښې ده چه په ۱۶۶۰ کښی لیکل شوی ده ، او دریمه دلندن په ناشو نال جالیری کښی ده چه په ۱۶۶٤ کښی لیکل شویده .

مگر له دې ټولو لوحو څخه ښه لوحه یوه بله لوحه ده چه په ۱۶۶۹ کښې لیکل شوی ده چه ده خپل ځان پکښې رسم کړی دی او دده وروستنی لوحه ده . پدې لوحه کښې دی پیاوړی فنان د خپل فن حق په ښه شان سره ادا کړی او په دی خپل رسم کښې ئې دخپل ژوندون اکثر کیفیات او خپل پټ تاثرات ښکاره کړی دی .

په یوه بله لوحه کښې ده دخپل کور دخدمتگارې هند ریکا سگل په ۱۶۶۳ کښی رسم ایستلی دی چه دغه لوحه دبرلین په موزیم کښی پرته ده ، او دده د تابلو گانو او د رسم د لوحو یوه بله مجموعه ده چه په ۱۶۵۰ کښې لیکل شویده او دغه مجموعه دوندسور په قلا کښې محفوظه ده . په یوه بله لوحه کښې ده دیوی وینځی او خپل ور ور ادریان شکل رسم کړی او د سروزرو خول ئی ورپه سر کړی دی دغه لوحه هم په ۱۶۵۰ کښې لیکل شوی او دبرلین په موزیم کښې پرته ده ، او په بله یوه لوحه باندی ئې دخپل زوی تیتوس شکل رسم کړی دی او دغه لوحه دفینا په موزیم کښې ده ، همدغه شان په نورو لوحو ده دخپلی خور او خپل پلار شکلونه رسم کړی دی چه د دغو ټولو رسمونو څخه دده دفنی قوت او اقتدار اندازه کیدی شی ځینی دا راز لوحی هم شته چه دی پیاوړی فنان دخپل عصر دپیاوړو پوهانو دپاره په خاص اهتمام دیادگار په ډول لیکلی دی ، او دده دلوحو دا مجموعه هم دذکر او یادگیرنی وړ ده ، په دغه لړ کښې یوه لوحه ده چه په دغی لوحی باندی ده د «کوبینول» نومی خطاط شکل په ۱۶۳۱ کښې رسم کړی دی او دغه لوحه په پطرسبرگ کښې ده ، په کومه لوحه چه دالیزابت باس او د «ادمیرال سوار تنهوت او دده دحرم» شکل رسم شوی دی هغه په امستردام کښې ده کومه لوحه چه په ۱۶۵۱ کښې د «پانکراس» او دهغه دماندینی شکل رسم شویدی هغه دلندن په بکنگهم نومې قصر کښې ده . او دده یو بل رسم چه په ۱۶۵۱ کښې لیکل شویدی دستوکهم په موزیم کښې دی . په کومه لوحه چه ده په ۱۶۵٤ کښې دجان سیکس شکل رسم کړی دی هغه دا مستردام په سیکس جالیری نومی ځای کښې ده ؛ او دده یوه د التیا نومی لوحه ده چه په ۱۶۳۶ کښې ئې جوړ کړی او په دغه لوحه باندی ئی یوه لڅه ښځه رسم کړیدی او په دغه رسم کښې ئې د طبعی حجم په رعایت کښې دخپل فن فنی اقتدار ښکاره کړی او دغه لوحه په پطرسبرگ کښې ده .

ددی فنان « کوینتابل » نومی لوحه په سان ریمو کښې ده، او په سنه ۱۶۶۵ کښې ئې دیهودیانو دواده شکل رسم کړیدی چه دا مستردام په موزیم کښې پروت دی. په یوه بله لوحه باندی ئې دیهودیانو دکلیسا د خلکو او دډیوک دو فنیشر دجنازی شکل رسم کړیدی. او دا رسمونه پرته له هغی رسمو څخه دی چه ده د زړو ښځو او نورو ډېرو جمعیتونو شکلونه رسم کړی چه هغه نن ددی فن دلوړو کارنامو څخه ګڼل کېږی او ددی راز رسمونو ډېره برخه دلندن او پطرسبرګ او بروکسل او درسدن په موزیم خانو کښې پرته ده. ده لکه څه رنګه چه دافرادو په رسم او تصویر کښې دخپل فن او قریحی حق ادا کړی دی همدغه شان ئې دډېرو خلکو او ګڼو افرادو په رسم کښې هم دخپل فنانیت حق ادا کړی دی.

ده د امستر دام دپیاوړو او اطباؤ دیوی ډلی رسم په ۱۶۳۲ کښې کښلی دی په دغه رسم کښې یو رنځور دتشریح او اپریشن په میز پروت او د اکتر تلپ ئې اپریشن کوی او دد اکتر تلپ سره نور اته تنه داکتران دی چه ددی پیاوړی دکتر تشریح او عملیاتو ته په ډېر دقت سره ګوری او په دی ضمن کښې داکتر تلپ دوی ته موقع په موقع دځینو خصوصی مسائلو په خواوشا کښې تشریحات ورکوی؛ دی فنان په دغه رسم کښې دهر سړی حالت او جذبات په خپل رسم کښې جلا جلا په داسی شان سره ښکاره کړی دی چه خیال ئې د حقیقت سره نزدی کړی او خپل فنی وقار ئې دخپل فن په زور دنیا ته ښکاره کړی دی.

دده په لوحو کښې ډېره لویه او مهمه لوحه د شپی د پیره دارانو لوحه ده ددی لوحی او ږدوالی څلورنیم متره او عرض او پلن والی ئې د دری نیمو مترو څخه څه قدرته ډېر دی؛ که څه هم د دغه رسم څخه داسی معلومېږی چه دامستر دام دلښکر وڅخه څوتنه دخپل مرکز څخه دورځی وتلی دی چه دهغوی په یوی خوا باندی دلمر رڼا معلومېږی او ددی فنان په عبقریت شاهدی ورکوی، په دی لوحه کښې ده شل تنه رسم کړی دی چه دیوه مخ دبل له مخ سره هیڅ مشابهت نلری؛ دا لوحه دی رسام په ډېره موده کښې رسم کړی او په سنه ۱۶۴۲ کښې ئې خلاصه کړی ده په دغه لوحه کښې دډېر ګڼ سیوری او تیزی رڼا منظره په ډېر ښه شان رسم کړی ده او په دغه لوحه کښې ئې د خپل فن اعجاز په ښه ډول ښکاره کړی او راتلونکی نسل ته ئې یوه لوړه نمونه پری ایښی ده.

ددی فنان یو بل یادګار دهغو دینی تصویرونو او په مجموعه ده چه دغه مجموعه دفن او ثقافت لوړه نمونه او ډېر قوی یادګار دی.

او پرته له دی دا فنان دطبیعی منظر وهم تخمیناً دولس لوحی لری او دغه لوحی ده په یو دارازمهارت رسم کړی دی چه په لیدونکو باندی ډېر ژور تاثیر غورځوی او دده دفن مهارت پکښې دلمر پشان ځلېږی.

لنډه دا که دده ټولی لوحی چه تقریبا (۲۶۰) پوری رسیږی ټولی راغونډی کړی شي نو دهغو څخه به په دی فن کښې یو دارازعلمی او تاریخی کتاب جوړ شی چه د فن او تاریخ په لړ کښې به ئې ساری او نظیر نه وی.

کیسې او نکلونه

د آلفونسکار اثر

ماګدولینه

(۱۱)

قسمت

مترجم : ښاغلی « بینوا »

ژمی تېرشو ، او استیفن خپل معلم ته ورتګ پرېښود او هرڅو چه « هومل » ده ته اصرار او تاکید کاوه څه اغیزه ئې نه کوله. دا ځکه چه دده پیسی پرتمامېدو وې او ډېری لږ پیسې ورته پاته وې . نه پوهېدی، چه ددې پیسو ترتمامېدوو روسته به څه کوی؟ اوخپل ژوند به څنګه تېروی ؟ ناچاره شو دسپما او امساک لارئې ونیوله. څوئې په وسه وه، سختۍ او ربړی ئې پرځان واخیستلې، اوفقط دوه وخته ئې خواړه خوړله څیری څیری کالی ئې اغو ستله، هر کله چه به فقر اوتنګد ستۍ پرده فشار راووړ او ژوند به ئې سخت شو، نوله ځانه سره به ئې ویل :- زما اکازه وتر ټلم، او را ته وې ویل چه داسی روغ رمټ او غښتلی زلمی لکه ته باید دپلار اونور خلکو پراوږو بار نسی، همدا خبره زما همت ونه منله اودپلار کور می پرېښود ، اوس دادی دخپل نفس عزت او مناعت و دې لوږی ته راوړسولم اواحتمال لری چه دمرګ په خوله کښی می هم وا چوی ، آه ، زما دخپلو انو زړ ونه څومره سخت دی، د دوی په زړو کښې هیڅ رحم اومېړانه نشته!

دوی کو لای شوه چه زه ئې یو د وکا له دمېلمه په تو ګه ساتلی وای ، ترڅو ما ته هم در وزۍ و ر راپرانیت شوې وای . هغه وخت به نو زما زحمت هم ددوی له سره کم او پورته شوی وای ، اویا اقلاً دوی کو لای شوه د مخه تر دې چه ماله ځانه لیری کړی، ماته ئې داسی ځای راښوولی وای چه ژوندمی لږ څه آرامۍ تېرېدلای اوداډول دبې وزلو اشخاصو په څېر په پر دیسۍ او بېکسۍ کښې له مرګه سره مخا مخ شوی نه وای . »

هغه شی چه استیفن ئې تر هر څه ډېر خواشینی کاوه اودده روح ئې په عذاباوه داو، چه ده له ما ګډولینی سره وعده کړې وه چه دی به خپل ټول زیاراو کوشش دبډ ائۍ او پانګی په را غونډ ولو کښې صرف کړی او ددې امید ئې پیدا کړی و ، چه ژر ترژره به دخپل ځان او دما ګډ ولینی دنیکمرغۍ او سعا دت اسباب راغو نډ کړی ، اوپه دې پو هېدی، که دی دمقصد ځالی ته ونه رسېږی او د ژو ند و ن پر مشکلا تو بر ی ونه مومی نو ما ګډولینه ئې دیأس اوبدبختۍ په کوهی کښې اچولې ده اود هغې د مرګ سبب به وګرځی .

له دې کبله ئې نو د دې پرحال زړه سو ، او د دې دراتلو نکو ترخو ورځو یاد به ئې زړه سولا وه او څوکه ئې وس وای چه د دې دسعادت په لارکښې خپل ځان جار اوقربانی کړ د او یور معلو مه وای چه دده د ټول ژوند په قیمت دما گډو لینی نیکمر غی اوسعادت رانیول کېږی نو یقیناً به ئې په ډېر خوشال زړه له ژوندونه سترگی پټی کړی وای اومرگ ته به حاضر شوی و.

یوه ورځ دخیابان له څنگه تېرېدی ، یوبې وزلی زلمی ئې ولیدچه څیری څیری کالی ئې اغوستی وه په خورا پریشانه حال ده ته راغی ، لاس ئې وروغځاوه اوڅه خیرات ئې ځنی وغوښت استیفن له حیا اوخجالته مخ وگرزا وه ، زلمی بیا خپله غوښتنه تکرار کړه اوقسم ئې وا خیست چه « عیال می له لوژی بیطاقته شوی دی او د وې ورځی کېږی چه هیڅ شی ئې پرژبه نه دی ایښی اونې شونډو یې له تر خوا وښکو اوسوی فر یاده دبل شی خوند کتلی دی . . . »

استیفن له دې خبری ډېر متا ثر شواوده ته ئې مخ راوگرزاوه پو ښتنه ئې ځینی وکړه « ایا خپل عیال ډېر درباندی گران دی » ! . . ځلمی وویل ! « هوښاغلی ! تر ځان لا را باندی گران دی ! » استیفن خپل سر په تأثر وښورا وه دځانه سره ئې وویل ! « دازلمی غواړی چه دخپل عیال دلوږی اوفلا کت پرحال دخلکو زړه وسوځوی او شفقت ئې وغواړی مگر نه دی خبر ، چه دا خلك رحم او عاطفه نه لری ، که ئې څه قدر پوه او فکر در لو دای نو پوه شوی به وای چه خپل پومقدس حق له خلکو غواړی او څوك پرده باندی داعتراض حق نه لری ، ځکه چه په دنیا کښې تردې هیڅ لو یه گناه نسته چه د سړی ماندینه له لو ږی ورته مری او دی نو بل هیڅ کارنه کوی بې له دې چه لستو نی ئې ستر گو ته نیولی وی او د ما ندینې سر ته ناست په رټ رټ ژاړی . . »

تردې وروسته ئې لاس جیب ته کړ ، هرڅه پیسې چه ئې په جیب کښې دراودې راوې کښلې زلمی ته ئې ورکړې ، اوپر لاری رهی شوله ځانه سره ئې ویل : « اوس خومی څو ورځی دمرگ له منگلو خلاص کړ ، څو بیا خدا ی له بلی لاری یو څه ور کړ ی » تردی و روسته ژر خپل ځای ته راغی مگر په داسی حال کښې چه دیوی ور ځی خرڅ هم نه وورپاته شوی .

دما گډلینی مکتوب استیفن ته

زړه ته ر اتیر دو سته !

سو زانه له ییلاق څخه « کوبلانس » ته راغلې ده اونن ئی ز ماسره تېره کړه د دې له لیدو څخه د ېره خوشاله شوم اوهر گړی به می دا آرزو وه چه کشکی ته هم د لته وای اوسوزانه دی لیدلې وای چه څه ښکلی بشر اوسپېڅلی خویونه لری اوپه لطافت او شیرینۍ سره خوږی خوږی خبری کوی اوڅنگه رازراز فضیلتونه په دی کښې راغونډ شوی دی. سوزانه سر بېره پردی چه صورت ئی ښکلی او زیبا دی معنو ی فضیلتو نه او هنر ونه هم لری په څو ژبو پو هېږ ی ډېره نقاشه ده اوتردی ټولولا ښه ساز کوی او آواز ئی په ار ویدونکی کښی د سحر په شا ن اغېږ ه کوی اودسپینو غا ښو خندا او موسکی ئی یو گړی له شونډونه هیسته کېږی دد ې ټول ژو ندون په عیش او عشرت کښی تېر ېږی دسروراوبزم دمنظر ی په څېر بل هیڅ منظر د ا په وجد اونشاط نشی راو ستلای دنڅا اوخوښۍ دمجلس دقصو په شان بله یوه قصه هم خوند نه ور کوی له سوزانې سر ه ز ما مینه او علاقه دی درجی ته رار سیدلی ده چه یو گړی بې دی صبر نشم کو لا ی او یوه دقیقه ځنی بیلید لا ی نشم هیله لرم چه ته هم ز ما په شان « سوزانه » دځانه دو سته و بولې او ترهغی ور ځی پو ری چه تاسی سر ه وینی د دی مینه پخپل ز ړه کښی وساتې .

په کاغذ کښی می نورسپین ځای نسته چه څه د رته ولیکم فقط دا یوه کلمه پکښې ځایولای شم چه درته و لیکم ! « ته را باندی گران یې ! »

داسټیفن مکتوب ماگډولینی ته

ماگډولینی ! ستا دامر په قرار ستاد ملگری «سوزانی» مینه په زړه کښی ساتم اودا راباندی گرانه ده مگر دا نه د دی دپاره چه سوزانه ښکلی او ښائسته ده ځکه چه ستا ښکلیتوب او جمال زما په زړه کښی داسی ځای نیولی دی چه دبل چامینی ته وړ کوټی ځای هم پاته نه دی او نه ددی دپاره چه سوزانه ښه نڅا کوی یا ښه آواز لری ځکه چه زما په غم لړلی زخمی زړه بې له دوو وسیلو په بل څه نه اغیزی چه هغه نو یا ستا د مخ لیدل دی او یا د مرگ د ساعت راتگ له دی جهته نو زما مینه او محبت له هغی سره ددی دپاره دی چه هغه ستاد تنهائی ملگری ده او پخپل الفت ستا څخه د تنهائی وحشت لیری کوی ، او ستا دژوندون دمشقتو بارستا له اوږو څخه سپکوی ځکه نو دزړه له کومی له دې څخه تشکر کوم او خپل سپیڅلی سلامونه ورته وړاندی کوم .

ماگډولینی ! تراوسه لاژوندون نه دی راته خندلی او د بخت معشوقی لامخ نه دی رالڅ کړی مگر زه د صبر لمن نه ایله کوم او خپل ځان نا امیدی ته نه سپارم او تر هغو پوری زیار او کوښښ باسم څو خپلی زړی آرزو او گران مطلب ته ورسیږم نوره نو ډیره مینه

داوژن مکتوب اسټیفن ته

هغه سوغات او هدیه چه ماگډولینی ماته راا ستولی وه راورسیده او له هغې څخه بیخی ډیر ممنون او متشکر سوم ، ډیر عمر کیدې چه یوه « پالتو » ته می احتیاج درلود او نمی سوالی کولای چه لاس ته ئی راولم څو چه دماگډولینی هدیه راورسیده او ددی دمهربانی او لطف څخه دیوه نوی پالتو څښتن سوم او د خپلو همزولو او ملگرو په منځ کښې می سرلوړ شو ، هیله لرم چه زما له خوا له دی څخه تشکر وکړی او که د خدای رضاوه چه زه پدې نژدوور ځو کښې ددې په دیدار مشرف سوم خو په خپله به ئې ددی دلوړ احسان اداینه وکړم که نور هیڅ شی ورته تقدیم نه کړ ای شم د خپل سفر عجائبی او غرائبی به ورته نقل کړم او له دی لاری به ئی زړه خوشحاله وساتم .

پرون می د جنگ لمړی روځ ولیدله په ابتدا کښی دجگړی له هیبت لږ څه وار خطا شوم مگر فقط چه د آسانو شیشنی ، دډاله ډنگهار ، دتوپوغړمبهار او داوربل ږغ پورته شو آس می دسیل په شان په میدان ورگډ کړ ، نور نو هیڅ خو اته ملتفت نه وم او بیله دخپلی توری له بر یښنا څخه می بل هیڅ شی نه لیدی ؛ څو چه غلیم ما ته وکړه او زه له دی پیښی څخه د اسی سر مست او خوشحاله وم چه خیال می کاوه یوازی ما دښمن مات کړی دی ، زمونږ قوماندان زماله مړانی او زړه ور توب څخه خبر شو او زه ئی دنائب معین مقرر کړم ، خوا میدلرم چه ژر به دنائبی دمنصب سره تاسی ته درسم .

داسټیفن مکتوب ماگډولینی ته.

ماگډولینې ! ژوند لږ څه راته خندلی دی او بخت می غیږ راته خلاصه کړی ده برائی می معلم چه څو هفتی می نه ولیدلی هغه کاروان سرای ته چه زه پکښې اوسم راغی او زیری ئې راباندې وکی ، چه په یوه کوچنی مدرسه کښی ئې یو کوچنی کار په لږ معاش راپیدا کړی دی او مدرسې وعده کړی ده چه تر اتو میاشتو وروسته می معاش یو په دوه کی له دی سببه می وخدای ته شکر وکېښ او خوشحاله سوم ماگډولینې . په ژوند کښی تر لمړی قدم اخیستلو هیڅ شی مشکل ندی نو که څوک پدی قدم کښی خطا وزی او مقصد ته ونه رسیږی بیائی نو تر پایه کار خرا پیږی او هیڅ کله به دنیک مرغی مخ ونه وینی

له هري خوا

دوينو بندولو بالکل نوی او آسانه لیار

داکترو خلکو دوینی بهیدل په دوو یا دری یا څلورو او پنځو دقیقو کښې بندېږی لیکن په کوموانسانانو کښې چه نزیفی Haemophilia استعداد ډېر وی دهغو دپر هرونو وینه بندول ډېر وخت غواړی او کله کله داسی هم پېښېږی چه درنځور له پر هار څخه دومره وینه وبهېږی چه رنځور مړشی ، د دی راز رنځورانو دپاره دسائنس پوهانو یوه نوی لیار په دی شان اختراع کړی ده چه باید ددی راز رنځورانو په پر هر « تهرامبن » Thrombin نومی سپین سور بخن پوډرچه د غواو دپړ پوس اوو ینی څخه جوړ شوی دی ودوړ وی د « ائیوا » دجامعی پوهانو ددی خبری تصدیق کړی دی چه د اسفوف هېڅ ضررنه لری او په پنځو ثانیو کښې پری وینه بندېږی ، اودادارو دجراحانو دپاره یوه قیمتی هدیه ده .

په خوب کښې دخرهار بندول

ددی پېښې دبندولو دپاره پوهانو هر وخت جلاجلا نوی نوی تجویز ونه کړی دی په دی لړ کښې یونوی داراز ملاوستنی « کمربند » ایجاداواختراع شوی دی چه هغه دی رازمرض ته ډېره فائده کوی .

څوك چه ستونی ستغ بېده کېږی هغوی ته داعارضه ډېره پېښېږی باید هغوی دبیده کېدلو په وخت کښې دغه ملاوستنی چه دشا ډډی ته پکښې یوه داسی غټه پوکنی وی چه دی ستونی ستغ ملاستی ته نه پرېږدی اودی پراړخ باندی بېده کېدلو ته مجبو روی وتړی ددی راز پېښې دپاره دغه نوی اختراع شوی ملاوستنی (کمربند) ډېر مفید دی .

دمېږیانو په منځ کښې یوبل ته دخبرور کولو حس اوقوت

دطبیعیاتو پیاوړی یوه « مسترایم - بی ، ډی ، ډبلیو ، مارلی » نومی انګلیس دانظر یه لری چه مېږیانو ته پاك خدای دومره حس اوقوت ور کړی دی چه هغوی دهغی په واسط دډېر بیرته ځای څخه په خپلو منځو کښې دیوبل سره دخبرو نور سولو سلسله جاری ساتلی شی . دی دانظر یه لری چه دمېږی په دماغ کښې پاك خدای یو داراز قوت ایښولی دی چه د راډیو د اموا جو په شان دوی په خپل منځ کښې د ډېری فاصلی څخه خبر ور کولی اواخستلی شی ، ده دلندن په یوډېر لوی مجلس کښې په دی موضوع خبری اتری وکړی ، ده ددی خبری داثبات دپاره په یوه خونه کښې یو مېږی ته بوره واچوله اوچه یوڅودقیقی دی سره دنورو خلکو دغی خونی ته ورغی ګوری چه دری څلور نور مېږی ده څخه راغلی او ځینې له نورو ځایو څخه راروان دی .

دبرق په خصوص کښې نوی انکشاف

دمخه نیشنل فزیکل لیبوریټری ټولو شفاخانو ته په دی مضمون خبرور کړی دی چه باید تاسو په دی خبره پوه شی چه درنځورانو دشړیو دتماس څخه په ډېر مقدار برق پیدا کېږی ، اوممکنه ده چه دغی برق څخه ځنی داروګان اورواخلی ، او کوم خلك چه زر زرخپل سرونه ږمنځوی دهغوی دویښتانو څخه هم برق پیدا کېږی که څه هم دغه برق شین غوندی رنګ اویو راز آواز هم لری لیکن ډېر خلك دغه شی ته نه ملتفت کېږی .

له دی حرکت څخه (۵۰۰) ولټه برق پیدا کیږی .

که څوك په یوه پیشو باندی چه دلمر څخه راغلی وی اودهغې په ویښتانو کښې دلمر تودوالی موجود وی ، او په دغه وخت کښې ددغی پیشو په ملا په تاوتاو لاس راکاږی نو په دغه وخت کښې ددی حرکت څخه برق پیدا کیږی .

او که سړی دلاس دوهلو په وخت کښې په ښه شان سره ملتفت شی نوانسان داکولی شی چه ددغه برق او از هم په خپلو غوږ و واروی . لیکن دابرق د پیشو څخه نه پیدا کېږی بلکه دلاس دحرکت اوتماس څخه پیدا کېږی .

که انسان خپل قلم اورته نزدی دی کړی اودلږ تودوالی نه ورسته ئی په خپل لستو نی او یا یوبل شی و مږی او بیایی په خپله پزه ولګوی نو په دی صورت کښې په انسان په خپل وجود کښې دبرق اثر محسوس کړی .

ټوکی ټکالی

دمشهورو خلقو ټوکی

دی په توره ځړېږی !

دروما مشهور خطیب شیشرون چه پخپلو سیاسی او وطنی خدمتو معروف وو، یوه ښکلی لورئې درلوده چه د روما د اشرافو په کورنیو کښې یوه خوراماړه او بډای سړی ته ورکړی وه.

مگر دغه دشیشرون زوم، داسی گردی او دلنډقد خاوندوو، چه په تصور کښې نراځی. یوه ورځ شیشرون دخپلو شاگردانو سره هغه ځای ته تللی و، چه رومانیو نو به جرگی او مرکې پکښې کولې.

له لیری ئی ولیده، چه دده لور دخپله میړه سره راځی، او خوراښه کالی دو اړو اغوستی دی. خو زوم ئې یوه خورا اوږده توره هم ځړولی ده، چه پر مځکه پسی څکېږی!

شیشرون له خپلو ملگرو پوښتنه وکړه، چه دغه زما زوم ندی؟

هغو وویل: هو کې! ستا زوم دی، چه توره ئې ځړولې ده

شیشرون وویل: یه، یه.. دی په توره پوری ځړېږی!!!

پنځه منه خبری

یو وخت دملگرو ترمنځ په خبرو کښې جگړه پېښه شوه او ټولو په زوره ناري وهلی!

دیوه زغ چه لوړ وو، پر نورو ئې ناره وکړه ودرېږی، زه. یوه خبره کوم!

نور چپ شول، هغه وویل:

خبری مو خورا درنې شوې، له تاسی څخه خواهش کوم چه هر یو به په ساعت کښې پنځه منه خبری کوی، چه خورا درنې نسی!...

رشوت ندی !

یو وخت مشهور موسیو بارتو دیو گوسلا ویا دمړه پاچا اسکندر سره په کتاب خانه کښې سیاسی خبری اتری کولې، د موسیو بارتو سترگی پر یوه کتاب ولگېدې وې ویل داڅنگه ښه کتاب دی!

پاچا وویل: دغه کتاب تاسی ته اهداء کوم!

مگر داوار وه: دغه کتاب زه وموسیو بارتو لیکونکی او ادیب ته اهداء کوم، نه موسیو بارتو مشهور وزیر او سیاسی سړی ته، چه اوس دسیاست په مهماتو کښې خبری راسره کوی!

بارتو وویل:

ښه! اوس نو زه دغه هدیه منم، ځکه چه سیاسی رشوت ندی!

دکابل گالنی

۱۳۲۱

له تاریخی ، ادبی او اجتماعی مقالو سره مصوره او ښکلې نشر شوې ده

له پاڼو ځی څخه ئی رانیسیء قیمت: کاغذی وقایه والا (۲۲) افغانۍ

کپره ئی « « (۲۵) «